
Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون



ناول

د ناکامورا
د ژوند رښتینی داستان

# وطن مي

لیکوال: نورالله سلطان زوی

CamScanner

# وطن مې

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

ليکوال: نورالله سلطان زوی

CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

# وطن مې

**لیکوال:** نورالله سلطان زوی

**چاپ وار:** لومړی

**چاپځی:** علمي مطبعه- کابل / ۰۷۸۰۰۹۰۰۷۱

**چاپ شمېر:** ۱۰۰۰

**خپرندوی:** علمي خپرندویه ټولنه / کابل

**ډیزاین:** محمد صدیق علمي- ۰۷۷۲۰۰۷۲۲۸

**بیه:** ۱۰۰ ؋

**پته:** کابل ارزان قیمت (احمد شاه بابا مېنه) داود خان څلور لارې ۱۲ بلاک ۶ کوڅه خدارن پلازه علمي کتاب پلورنځی پکتیا، د ګردېز ښار، غزني لین، د عبدالحمید ګردېزي مارکېټ، افغانستان

**اړیکه:** 0780090071- 0774 00 05 84 - 0772288190

علمي کتاب پلورنځی کابل / واټساپ نمبر: 0774000584

د علمي خپرندویه ټولنې کتابونه په لاندې ځایونو کې ترلاسه کولای شئ

**کابل:** اکسوس کـــتاب پلورنځی / سروش کـــتاب پلـورنځی

**ننګرهار:** مومند کـــتاب پلورنځی / ختیځ کـــتاب پلورنځی

**خوست:** ژوندون کتاب پلورنځی / شیخ زاید کتاب پلورنځی

ددې کتاب د چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندویې

ټولنې سره خوندي دي!

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

# ډالۍ

د نړۍ ټولو انسان پالو وګړو ته !

CamScanner

## سریزه

ژوند ښکلی نه وي بشر- ژوند ته ښکلا وربښي. خو له بده مرغه موږ هغه څوک یو چې نه خپله ژوند کوو او نه بل ژوند ته پریږدو! ژوند مو بدرنګ دی نه یې خپله ښکلی کوو او نه بل پریږدو چې ښکلی یې کړي.

ژوند لمځي ته ورته دی، پرلمځي هر څوک خپلې وړې کیږدي او تکوي یې، د ناستې له پاره یې چمتو کوي. د هر چا د وړیو نښې راتلونکې نسلونو ته پاتې کېږي. د هر چا وړی ځانګړې ښکلا لري، ځانګړی رنګ لري. له بده مرغه چې په دې لمځي زموږ د وړیو رنګ تت دی او له وړیو مو د باروتو بوی خېژي.

تر څنګ ناست خلک شونډې راپسې بوځوي. هر څوک را څخه کرکه کوي. هیڅوک له موږ سره څنګ په څنګ نه کیني، ځکه چې په لمن مو اور بل دی. راځئ چې د ژوند د لمځي وړیو ته یو نوی رنګ ورکړو، تر څو د هر چا پام را خپل کړو.

په همدې موخه مې د ډاکټر صیب تیتسو ناکامورا ژوند ته سر ور ښکاره کړ. ژوند یې ښکلی ؤ. که څوک وغواړي چې لیکنه پرې وکړي نو لس ناولونه نور هم پرې لیکل کیدای شي ځکه چې ژوند یې مختلفې زاویې لري ما د انسان پالنې له زاویې ور وکتل، ترڅو مو ځوان کهول ترې اغیزمن شي. دا چې په ناول کې څه دي هغه به تاسو ته پریږدم تر څو مو په تلوسه کې کوم کمی را نه شي.

دا تاسو او دا مو وطن مې

استاد نورالله سلطان زوی



**د کمپیوټر** په کیبورډ مې یوه ټسا جوړه وه. اخیري پاراګراف ؤ، ټایپ مې کړ. کمپیوټر مې بند کړ. د څوکۍ پر ژۍ مې اورمیږ کېښود، پام مې شو چې ټول زما په تمه دي.

بیرته مې سر راپورته کړ، ځان مې نېغ ونیوو. د سبا د ورځې په مهال ویش خبرې روانې شوي، مسؤل کس هر چاته خپل کار ور وښولو. زه یې تر ټولو اخیر ته پرېښووم. د ټولو کارونه معلوم شول بیا یې ماته مخ را وګرځاوه، ویې ویل:

تاسو ته مو یوه ځانګړې مرکه په پام کې نیولې!

زه غلی وم ځکه خبره لا پاتې وه. د لیدنې ځای او کس یې نه ؤ را ښودلي او له بله پلوه یې زه په عادي مرکو پسې نه لیږلم او تل به مې

هغه مرکې ترسره کولې چې زموږ څېړنيز مرکز به ورته اړتيا لرله او خورا ارزښتناکې به وي.

زه همغسې غلی وم چې مسؤل کس زياته کړه:

تاسو به سبا ته د يو جاپاني ډاکټر په ژوند يو متن جوړ کړئ.

زه بيا هم غلی وم ځکه چې موخه څرګنده نه وه او ټولو همکارانو په همدې عادت خوبن وم چې په ډېر دقت سره د بل خبرې اورم.

مسؤل کس د ميز له سره يو ژيړ رنګه کاغذ را کړ. په کاغذ کې مې سترګې ونيولې په کاغذ د کور او کوڅې ادرس ليکل شوی وو. لاندې ترې په انګريزي اعدادو د اړيکې شمېره ليکل شوې وه.

کاغذ مې ټول کړ په جيب کې مې کېښود.

سر مې پورته کړ او ومې ويل:

سمه ده.

سهار لږ ناوخته دفتر ته لاړم. جيب ته مې لاس کړ هغه پرونی کاغذ مې را واخيست. د دفتر په تليفون کې مې شمېره ووهله. ګوشکه مې غوږ ته ونيوه. زنګ تېر شو، له درو زنګو وروسته مې د يو نارينه غږ واوريدو:

هلو

ومې ویل:

السلام علیکم.

پوښتنه مې ور سره وکړه، ځان مې ور وپیژندو:

روح الله افغان یم. د وطن څیړنیز مرکز څخه مې اړیکه نیولې.

په همدې موقع اړیکه غوڅه شوه. بیا مې شمیر ووهله. گوشکه مې غوږ ته ونیوه. زنگ تېر شو سمدلاسه مې بیا همغه غږ واوریدو:

اوبښئ فکر کوم شبکه کې ستونزه دی!

ومې ویل:

هیله کوم

وخت مو نه نیسم غواړم له ډاکتر صیب سره یوه مرکه وکړم او پر ژوند یې یو متن جوړ کړم او خپرنه پرې وکړم.

له هغه لورې مې واوریدل:

هر کله راشئ ستونزه نشته

له یوې لنډې دمې وروسته یې بیا وویل:

ځای درمعلوم دی؟

ومې ویل:

هیله کوم. هو ادرس مې اخیستی.

بیا مې وارویدل:

ښې چارې

اړیکه غوڅه شوه.

پـه لـومړي ځـل ورسره مـخ کیـدم. تـر اوسـه مـې لـه نـږدې نـه وو لیـدلی. سم مـې نـه پیژنـدو. یـوازې یـې لـه نـوم سره بلـد وم. نـه پوهیـدم چـې څه ډول به وي.

همکارانو ته مې وویل:

زه لاړم.

حامـد مسـک شـو، ځـان یـې د کمپیـوټر د سـکرین تـر شـاه پـټ کـړ، پـه غلي غږ یې وویل:

که ډوډۍ راباندې خورې نو زه هم در سره ځم.

ور تـاو شـوم. حامـد سر د کمپیـوټر د سـکرین تـر شـا ټیټ کـړی وو، داسـې ښـکاریدو لکـه یـو څـه چـې لیکـي. اوږې یـې نیغـې نیغـې وتلـې وې. وخندیدم ومې ویل:

څه چې زه خورم هغه پر تا هم خوړلی شم.

په دې وخت کې وهاب له بل کونجه را غږ کړ:

ستا ډوډۍ خو ماته معلومه دی! تر څو چې دې ټول کار نه وي خلاص کړی نه خپله ډوډۍ خورې او نه يې بل درنه خوړلی شي.

وهاب ملامت نه وو يوه ورځ را سره لاړ وو د غرمې ډوډۍ مو په ماښام وخوړه نو ده هم هغه وخت په ياد وو.

ټولو ښه په کړس کړس وخندل.

ما هم خندا ورسره غبرګه کړه.

له خولې مې ور ووتل:

بس خوښه مو.

زه مو له ځان سره بيايم چې نه راسره ځی هغه ستاسو کار دی.

وهاب بيا له خندا شين شو. په خندا يې وويل:

زه خو نه در سره ځم. ستا له ډوډۍ مې هم توبه ده.

بکس مې د ميز پر سر کېښود. اړين توکې مې په کې کېښودل. څنځير مې پسې ورکش کړ. د بکس پټۍ مې له اوږو تاو کړې. ټولو ته مې د خدای په اماني و ويله او د کاري ساحې نوم مې ور واخيست، له دفتره ووتم.

د کوڅې په سر کې د ټکسي- په تمه وم. له بره يوه زړه ټکسي- را ښکاره شوه. موټر چلونکي څراغونه را کړل. ما هم د سر په اشاره وپوهاوه چې موټر ودروي.

موټر ودريده. دروازه مې خلاصه کړه. په شاتني سيټ کې څوک نه وو او په مخکني سيټ کې له موټر چلونکي سره يو ځوان ناست وو چې د سر ويښتان يې په اوږو پراته وو. بکس مې له اوږو ښکته کړ، په سيټ کې مې کېښود زه هم ور پورته شوم دروازه مې را بنده کړه.

موټر چلونکی تيار ځغاستې ته ناست وو. له گير ليول يې گوتې تاو وي، گير يې بدل کړ، د موټر له شا توري خوپښې پورته شوې.

موټر په کوڅو کې د مار په څېر تاو را تاو شو، تر څلور لارې ورسيدو، د څلور لارې په ښکتنۍ برخه کې يې کوز کړم. د لاس په مړوند مې ساعت را تاو کړ.له نهو پنځه ويشت تېرې وي. د خلکو په گڼه گونه کې دوکانونو ترمخ تېريدم چې د هوټلونو مخ ته د وازدو بوی مې په پوزه ولگيدو، کبابيانو د غوښې سيخونه په سکرو ايښي وو، له هر هوټل څخه دومره د غوښې بوی او لوگې پورته کېدل، چې د سړي حالت به يې بدل کړو.

بکس مې په اوږه و، له بوی په تنگ شوم په يوه لنډه کوڅه ور تاو شوم. تقريباً په پنځلس دقيقو کې د خپلې موخې تر تم ځايه ورسيدم.

په تم ځای کې ډېر موټر ولاړ وُ، هر ډریور نارې وهلې:

یو کس یوکس.

په زړه کې مې تېره شوه:

که خدای کوي له انتظاره خو خلاص شوم.

موټر ته ور پورته شوم، ومې لیدل چې یو بل نفر هم کم وو، یو څو دقیقې ورته په تمه شوم. صبر مې ونه شو، له موټر چلونکي مې وپوښتل:

وروره! څو تنه کم دي؟

ډریور ته د خدای ﷻ هدایت وکړي، سپینې سترګې یې را برګې کړې په لوړ غږ یې له خولې را ووتل:

وروره شور مه جوړوه!

که ډېره بیړه دې وي نو د یو نفر کرایه پرې کړه بس درسره روانیږم.

د دې خبرې په اوریدو مې تندی تریو شو، خو څه مې ونه ویل، غلی پاتې شوم ځکه زموږ په ټولنه کې موټر چلونکې لږ قهرجن دي او کله کله پر سپرلیو غصه کېږي او دا خو یې ورځنی عادت دی چې لس نفره هم کم وي دوی د یو نفر کم غږ کوي.

تر څنګ مې يو سپين سرى سړى ناست و، ږيره يې خيريلې وه په سر يې سپين او شنه ويښتان را خواره وو. غټې سترګې يې د عينکو په ښيښو کې ځليدلې.

خپلې عينکې يې له سترګو ښکته کړې، د لمن ژی يې را ونيوله د عينکو په ښيښو يې تېره کړه، ښيښې سپينې وځليدلې بيا يې عينکې په سترګو کړې او غاړه يې تازه کړه ويې ويل:

راځئ ټول به لس لس افغانۍ زياتې ورکړو تر څو د هغه يو نفر کرايه ورته جوړه شي!

د سپين سرې سړي خبره په ټولو سپرليو ښه ولګېدله ځکه چې له انصاف يې کار واخيستو او په تنګ شوي هم وو.

سپين سري د سيټ له منځه ور غږ کړ:

را ځه، لس لس افغانۍ زياتې درکوو.

د موټروان په مخ کې هم خوښي پيدا شوه او په ډېرې چټکۍ سره موټر ته را پورته شو، دروازه يې خلاصه پرېښوده.

موټر وان يو غوږ واسکټ په تن وو د غاړې غوړوالى يې له شا څخه هم ښکاريده او د جيبونو څنډې يې تکې تورې اوښتې وي.

د واسکټ په جیب یې لاس د ننه کړ، یوه توره کیلې یې را و ایستله، د سویچ په سورې یې ور ننه کړه، له موټر یې یو غور و ایستلو تا به ویل چې الوتکه پورته کیږي.

بیرته له موټره ښکته شو، یوه خیرنه سافي یې په ښېښو کش کړه، نه پوهیدم چې ښېښې یې پاکې کړې که خیرنې یې کړې.

سافي یې ټک وهله خړې دوړې ترې پورته شوې بیا یې سره راټوله کړه او د دروازې په لاندینې برخې کې یې ور ومنډله. موټر ته راپورته شو، دروازه یې په ځان پسې وویشته.

په شټرینګ یې د لاسونو پنجې کېښودې په اکسیلټر یې پښه ټینګه کړه، موټر وښوریدو. حرکت یې وکړ.

د موټر سرعت پسې زیاتیدو. د سرک پر غاړه ونې را ځخه تښتیدلې. موټر چلونکې ډېره چالاکه چلونه کوله د خپل او بل لاس توپیر یې نه کاوه خو بس یواځې به مخته کیدو. کله کله به چوکۍ کې لږ را ټول هم شو چې څوک ونه وهي.

په مخکینې سیټ کې دوه تنه ځوانان ناست ؤ او په شاتنې سیټ کې د ښېښې تر څنګ زه او ښې لورې ته مې یو تن سیپن سری او د هغه تر څنګ یو ځوان ناست وو، چې د طب پوهنځې محصل وو.

د هـر چـا مجلـس جـوړ وو، د مخكنـي سـيټ څوانـانو پـه خپلـو كـې سره خبرې اتـرې كـولې او پـه هـره سـتونزه كـې بـه يـې دولـت ملامـت كـړ. كلـه كله به يې ښكنځل هم كول.

زمـا تـر څنـګ سـپين سري سـړي هـم لـه خپـل ملګـري سره غـورې كـولې. ما هـم پـه زړه كـې مـوټر چلـونكې تـه كرلـه او ريبلـه چـې دا څـه ډول سـړى دى او دا كـوم ډول ډريـوري كـوي. كلـه كلـه بـه مـې ځـان ګـرم بالـه، چـې ولـې د دارنګـه سـړي سره راپورتـه شـوم او كلـه بـه مـې بيـا د ټرافيكـو امريت پړ كړ، چې هر چا ته يې لايسنس وركړى دى.

زه پـه فكرونـو كـې ډوب وم، د مـوټر ملګـري مـې پـه خـبرو ګـرم ول او مـوټر چلونكې لاره را لنډوله هر څوك بوخت وو.

تقريبـاً پـه ١٧ دقيقـو كـې تـر ټـاكلې ځايـه ورسـيدم. لـه ښېښـې مـې د ښكته كيـدو ځـاى پـه نښـه كـړ. غـاړه مـې تـازه كـړه پـر مـوټر چلـونكې مـې غږ وكړ:

وروره زه يو څو قدمه وړاندې هغه دروازې سره ښكته كيږم!

مـوټر چلـونكې بـې ځايـه پـه بريـک پښـه ټينګـه كـړه مـوټر ودريـدو، مـوږ ټـول يـې شـا او مـخ تـه وښـورولو. نـږدې مـې پـوزه د مخكينـې سـيټ پـه څنـډه ليږدلـې وه خـو خـداى ﷻ فضـل وكـړ ځـان مـې راټينـګ كـړ. دروازه مـې لا نـه وه خلاصـه كـړې چـې تـر څنـګ مـې شـنګ شـو سـور

رنګه کورلا تېره شوه، ژر مې دروازه پرېښودله، موټر چلونکې سترګې د عقب نما په ښېښه کې نیولې وي. په غټ غږ یې وویل:

ښکته کیږه موټر نشته!

دروازه مې خلاصه کړه، له موټره را ښکته شوم. موټر چلونکې همدا دوه سترګې را نیولې وي چې پیسې یې ونه ځنډوم.

ډیرور لورې ته ور تاو شوم. د افغانیو سلګون لوټ مې ورته ونیوه.

ژر یې د واسکټ په خیرن جیب لاس د ننه کړ او پاتې پیسې یې را وشمارلې، ما خپلې پیسې په جیب کړې. له موټره بیا غور ووتلو تر مخ مې تېر شو او شاته یې یوه توره لوخړه کوله تا به ویل چې د خښتو داش روان دی.

موټر په خپله مخه لاړ زه هم د سړک کینې لورې ته په کوڅه ور تاو شوم. کوڅه خامه وه خو د کورونو مخ ته یې ښې لویې لویې ونې ولاړې وي په ټوله کوڅه یې ښه درونډ سیوری جوړ وو. کوڅه سر ترسره پاکه وه هیڅ کاغذ، پلاستیک او خځلې په کې نه لیدل کېدې د سړې زړه پکې سکون کاوه.

د کوڅې تر نیمایي لا نه وم لاړ چې د خپلې موخې کور مې ومونده، مخې ته یې ودریدم، د دروازې د زنګ په تڼۍ مې ګوته ټینګه کړه. د زنګ په چغا ونه پوهیدم یوه شیبه وروسته دروازه خلاصه شوه. یو

ځوان لاس را اوږد کړ سترې مشې یې راکړې. لـه رنګـه تـور وو خـو پـه خټه کې یې شات ګڼ وو. پرته لـه کومې پوښتنې یې پـه مخـه کـړم. د دهلیـز پـه سر کې مې بـوټ و ایسـتل، پـه دهلیـز ور د ننـه شـوو. د دفتر دروازه یې را وښودله.

فکـر کـوم لـه وړانـدې ورتـه ویـل شـوي وو نـو ځکـه یـې نیـغ پـه نیغـه تـر ډاکټره ورسولم.

دروازه مـې وټکولـه یـوه شـیبه غلـی شـوم. د مهربـانۍ غـږ مـې واوریـدو. دروازه مې ور خلاصه کړه ومې ویل:

السلام علیکم

د سـلام پـه اوریـدو سره د میـز تـر شـاه یـو لنـډی سـړی نیـغ ودریـده او لـه میـز را واوښـتلو، لاسـونه یـې پورتـه کـړل غیـږ یـې لویـه کـړه، مسـک شـو داسـې ښـکاریدو لکـه جـې د خـو کلونـو را پـدیخوا یـو بـل پیژنـو. دواړه لاسـونه یـې را ځخـه تـاو کـړل، پـه غیـږ کـې یـې ونیـوم د کـورنۍ غـړو او شرایطـو پوښـتنه یـې راځخـه وکـړه روغبـړ مـو خـلاص شـو. د خپـل کـاري میـز پـر سر یـې پـه یـوه سـپینه تنـۍ ګوتـه ټینګـه کـړه. پـه دهلیـز کـې د زنګ کړنګا شوه.

زه ولاړم چې لنډی سرې را تاو شو. دواړه یو کوچني میز ته په یوه اوږده چوکۍ کیناستلو. یوه شیبه وروسته دروازه را خلاصه شوه. یو ځوان را ننوت لاس یې را وغځاوه.

ویې ویل:

ستړي مشې.

بیا زموږ میز ترمخ ودریده او زما ترخنګ لنډې سړې ته یې سترګې واړولي، ځوان په ونه ټیټ ؤ. خو د ببرو باڼو په منځ کې یې سترګې شنې ځلیدلې ډېر مینه ناک و د سترګو باڼه یې زمبول اوږدې نرۍ وروځې یې درلودلې د وروځو تر منځ یې فاصله وه یعنې له یو بل سره نه وې نښلیدلې. لنډې سړې په شونډو ژبه تېره کړه مسک شو ویې ویل:

میلمه راغلی!

لاسونو ته یې ټک ورکړ بیا یې وویل:

یوه پیاله تور چای خو را باندې ولوروه!

د ځوان باڼه سره ورغلل سترګې یې پټې کړې بیا یې وغړولې او د هو په معنا یې سر وښوراوه نور یې هیڅ ونه ویل له دفتره ووت.

زه هم نور غلی پاتې نه شوم. بکس مې راکش کړ، څنځیر مې خلاص کړ له بکس مې سپین کاغذ را وایستلو او د مخ جیب څخه مې تور رنګه بیک قلم کش کړ د قلم سرپوښ مې تاو کړ. بیا مې همداسې پر کاغذ کېښود.

مخ مې تاو کړ سترګې مې پورته کړې د لنډي سړي پړي پړي ویښتان شنه او سپین ځلیدل. په پړسیدلو سترګو کې یې سپینې اوبو ځلا کوله. په پلنه لنډه پوزه یې ساه اخیستله پر پیړو شونډو یې سپین لنډي بریتونه پراته وو او لنډۍ زنه یې سپینه ځلیده. په خټه کې یې ډېره مینه غړل شوې وه نه پوهیږم چې ولې راته د نړۍ تر ټولو ښکلی او شتمن کس ښکاریدو. په لیدو یې نه مړیدم څو دقیقې مې سترګې پکې نیولې وي، نه پوهیږم چې وجود به یې له کومې خټې جوړ و خو خټه یې ډېره خوږه وه.

وړاندې تر دې چې پر کاغذ څه ولیکم ومې ویل:

ډاکټر صیب زه به خپل کار پیل کړم چې وخت مو ونه نیسم.

پر شونډو یې سپین بریتونه وښوریدل مسک شو سپین غاښونه یې وبریښیدل په مسکا یې بدرګه کړه:

مهربانې هیله کوم!

قلم مې را پورته کړ په ګوتو کې مې تاوولو خبره مې را جوړه کړه له څو ثانیو چوپتیا وروسته مې په خبرو داسې پیل وکړ:

روح الله افغان یم د وطن خبرنیز مرکز کار کوونکی. پرون مې زنګ هم کړی وو.

د سړې په شونډه بیا لنډ بریتونه وښوریدل، ویې ویل:

اخ!

بیا یې ځان غلی کړ. زه هم غلی وم. د لاس ګوتې یې په سر تېرې کړې. په لوړ غږ یې وویل:

وطن!

وطن مې برباد دی.

بیا هم ډېر خوږ دی.

وطن خوږ وي.

که څنګه؟

ومې ویل:

هو. وطن خوږ وي!

له یوې لنډې سا اخیستو وروسته یې زیاته کړه:

ځـومره ښـه نـوم مـو ورتـه تـاکلی ډېـره مینـه ورسره لـرم، تـل زمـا د زړه مطالب خپروي مـوږ د ځـوان قشر۔ د ذهنونـو جوړولـو تـه ډېـره اړتیا لـرو نـو دا کار به په ګډه کـوو، ځکـه همـدا ځوانـان دي چـې هـم هېـواد ژوغـورلی شي او هم یې پلورلی شي.

د سرې پـه دې خـبره مـې زړه کـې سـتنې وچوخیـدلې او د هېـواد ډېـری شمېر ځوانـان مـې سـترګو تـه ښـکته او پورتـه شـول چـې پـه یـو او بـل نـوم یـې خپـل هېـواد خـچ پـچ کـړ. پـه ویښـه مـې خـوب لیـدلو، چـې د سرې لنډې سپین بریتونه بیا وښوریدل په جړ غږ یې و ویل:

وطن!

ښکلی نوم دی!

ډېر مې خوښ شو!

سر مې پورتـه کـړ ومـې لیـدل چـې لنـډې سـرې خپلـه لنـډه زنـه د لاس پـر پنجه تکیه کړې وه په چورت کې ډوب وو.

هیڅ مـې ونـه ویـل یـوه شـیبه غلـی شـوم بیـا مـې زړه صـبر ونـه کـړ چوپتیا مې ور ماته کړه:

ډاکټـر صـیب کـه خوښـه مـو وي غـواړم دا ځـل ستاسـو پـر ژونـد یـو څـو کرښې ولیکم؟

مخ يې را وګرځاوه اننګي يې سپين ځليدل په لنده يې وويل:

سمه ده!

يوه شيبه غلی وو بيا يې په پړسيدلو سترګو را وکتل او له خولې يې را ووتل:

له کومه يې پيل کړم؟

په دې وخت کې دروازه را خلاصه شوه همغه ځوان ؤ. د چای پتنوس يې په لاسونو کې را اخيستی ؤ را د ننه شو.

پتنوس يې په ځمکه کېښود له چاينک يې چای په پيالو کې واچاوه، د چاينک له چوښکري تاوونه ختل، پيالې يې پر ميز کېښودې. په پيالو کې تور چای زما پام خپل کړ، له پيالو تاوونه پورته کېدل، د قوس مياشتې پيل ؤ هوا هم په يخيدو وه په دې وخت کې خو بيا تور چای ښه خوند هم کوي. ځوان بيا پتنوس ته لاس ور وغځاوه يو کوچنی لوښی يې را پورته کړ په لوښي کې د کامې د ګوړې توټې پرتې وې له رنګه توره ښکاريده خو د سوچه ګنې ګوړه همداسې ښکارې نور په خوند کې له روسي چاکليټو هم غوره وي او خولې مې ښه اوبه ورته وکړه. ځوان له کوټې ووت.

ما هم له قلم سر کش کړ پر سپين کاغذ مې وليکل:

ځان مو را ؤپيژنئ؟

ما خپله پوښتنه نه تکرار کړې چې ډاکټر صیب له خندا شین شو او ویې ویل:

زما لهجه خو سمه نه ده راپسې ونه خاندې!

له دې خبرې سره بیا له خندا شین شو زه هم ورسره په خندا شوم او ومې ویل:

لهجه اړینه نه ده انسان پالنه مهمه ده!

بیا یې وویل:

سمه ده دومره خو مې زده ده چې ستاسو پوښتنې پرې ځواب کړم.

په سپین کاغذ مې سترګې ولګیدې. همدا خبره مې لنډې سړي ته تکرار کړه:

ځان مو را وپیژنئ!

عجیب سړی وو هره خبره به یې په مسکا پیلوله او ویل به یې چې مسکا د زړونو د فتحه کولو غوره اسلحه ده.

ماته هم ځکه ښکلی ښکاریدو چې مسکا یې په مخ خوره وه او مسکا خپره ښکلې کوي.

سړی مسک شو ، لاسونه يې پر يو بل مږل، په ستونې کې يې رګونه وښوريدل لاړې يې تېرې کړې او بيا يې زما پوښتنه داسې ځواب کړه:

نوم مې تيتسو ناکامورا دی!

بيا يوه شيبه غلی شو شونډې يې سره وروستلې، غاښونه يې ټينګ کړل. له يو لنډ فکر وروسته يې د ميز پر سر کاغذ کې سترګې ونيولې له يوې مسکا وروسته يې وويل:

نه پوهيږم چې انسانان يې ولې نه راسره مني!

ما هم غوږ نيولی ؤ. مرکه مې خورا حوصلې سره پرمخ وړه، د ژورناليستانو دا چلند مې نه خوښيده چې په پوښتنه کې پوښتنې ولټوم او له ميلمه ځواب يوې او بلې خوا کړم. که څه هم دا په اوسنې ژورناليزم کې يو ويروس بلل کيږي، چې له يو چا داسې پوښتنه وشي چې هغه لږ تر لږه درې دقيقې وخت نيسي– او ژورناليست بيا نيمه ثانيه وخت هم نه ورکوي.

زه همغسې غلی وم چې بيا يې پيل کړه:

زه خو وايم چې ټوله نړی يو کلی دی او ټول انسانان سره کليوال دي نو زه هم تقريباً له نن درې اويا کاله وړاندې د همدې نړيوال کلي د جاپان د فوکووکا په ښار کې د مور له لمن ولويدم.

بیا یې ماته سترګې را ونیولې او ویې ویل:

تر اوسه خو ځوان یم!

بیا یې په کړس کړس وخندل.

که زما اختیار وای نو نه مې غوښتل چې زه دې په هغه ټولنه کې د مور له لمن ولویږم، ځکه چې هغه یوه پرمختللې ټولنه وه زما زیږون ته یې هیڅ اړتیا نه درلوده. له تولد وروسته ما تل هڅه کوله چې زه دې په داسې یوې ټولنې کې ژوند وکړم چې د هغې ټولنې د درد له پاره د درملو حیثیت ولرم.

خپل کوچنیوب مې نه په زړه کیږي خو د مور او پلار له خولو به یې درته induced وایم:

پلار مې د ورځنې لګښت د پوره کولو په موخه په خپل ورځنی کار بوخت وو. مور به مې تل ترخنګ لرله او یوه شیبه یې هم پرته له ما نه تیروله تل به یې راته کیسې ویلې او په همغه کوچنیتوب کې یې راته د وطن پالنې مینه را ښودله. ورځ تر بلې ښه کېدم له وجوده کمزوری وم خو له ذهن بیا بیدار وم.

مور به مې هر وخت له بازاره راته د بیلا بیلو حیوانانو خبرې او موډلونه لکه زمری، لیوه او ګیدړ راوړل. له بازاره به چې را وګرځیده

نو زما د لوبو له سامان به يې هم يوه کوچنۍ پنډه جوړه وه، زما مخې ته به يې کېښوده.

زه به هم له خوښۍ په ټوپو وم. مور به مې راته ويل: زويه دا زمری دی! د ځنګل پاچا يې هم بللی شو. دا له نورو پاچايانو سره ډېر توپير لري. توپير يې په دې کې دی چې هيڅکله پر بل حيوان تېری نه کوي. له ټولو حيواناتو ځواکمن دی خو له هيڅ حيوان سره خپل زور نه ازمايي! که له لوږې مړ هم شي پردی ښکار نه خوري.

بيا به يې د بل حيوان موډل را پورته کړه او خبرې به يې وغځولې:

دا ليوه دی!

هسې د ليوه نوم بد دی. مور چې کله کوم ظالم انسان ووينو نو هغه د ليوه په نوم نوموو. خو په رښتيا سره ليوه دومره بد نه دی.

ليوه هم يو ځواکمن حيوان دی. خو هيڅ کله هم يو ليوه پر بل ليوه ستم نه کوي. ليوه په نس زورور دی، تل د خپل نس منې. خو دومره هم نه چې د يو وخت خواړو له پاره پر بل ليوه ظلم وکړي، که له لوږې هم مړ شي پر بل ليوه به هيڅ زياتی ونه کړي. ما تر اوسه نه دې اوريدلې چې يو ليوه د خپل نس د ډکولو له پاره بل ليوه وژلی وي!

بیا به یې یو بل حیوان راپورته کړ، ببره لکۍ به تړې ځوړند وه او وبه یې ویل:

دا بیا ډېر چالاکه حیوان دی! نوم یې کیدړه دی. تل د خپل نس په هکله فکر کوي او بې کبره هم دی د زمري پاتې شونو پسې ګرځي. چالاکه دی خو دومره هم نه چې د خپل نس له پاره له بل کیدړ سره چالاکي وکړي او هغه غلط کړي.

زه هغه وخت پر دې خبرو نه پوهیدم. یواځې د لوبو په موخه مې له ټولو ګټه اخیستله. کله چې لوی شوم په دې وپوهیدم چې مور مې په لوړه کچه انسانیت پالنه را ښودله او دا زما د کوچنیتوب دویمه مرحله وه. دا دوره هم په ټوپو وه ډېر ژر تېره شوه د ماشومتوب دریمه مرحله مې پیل شوه.

د دریمې مرحلې په نیمایي کې به مې مور په دې خبرو ډېر ټینګار کاوه چې:

زویه!

له انسان سره مینه وکړه!

ځکه چې انسان وطن ژغوري!

له وطن سره مینه وکړه!

ځکه چې وطن د انسان برستن دی!

ژوند وکړه او نورو ته ژوند ورکړه!

د ماشـومتوب دوران وو. پـه منـډو وو. نـه تـم کیـدو. زه هـم ورځ تـر بلـې ښه کېدم او د مور د سپارښتنو په ارزښت پوهیدم.

د مور په هـره سپارښـتنه کـې مـې مینـه وه. لـه کرکـې یـې کرکـه لرلـه او لـه مینې سره یې مینه کوله.

میاشـت پـه میاشـت مـې ونـه هـم لوړیدلـه او ذهـن مـې هـم غوړیـدو. یـو څـه را لـوی شـوم. پـه دې دوره کـې بـه مـې مـور زمـا د کوچینتـوب هغـه نـورو دورو کیسـې کـولې. پـه هـره کیسـه کـې بـه یـې زه اتـل ښـودم او ویـل به یې:

تـه یـو بختـور ماشـوم وی. د مـور او پـلار د خوښـی سـبب گرځیـدلی وې تـل بـه دې پـه څېـره کـې مسـکا لیـدل کیـده، همـدا مسـکا وه چـې پـه هـر چـا بـه گرانیـدلې او دا ډاډ در کـوم چـې عمـر بـه دې اوږد وي ځکـه چې:

مسکا عمر اوږدوي او د انسان تر ټولو غوره ډاکټر دی!

دا فطـري خـبره ده چـې د مـور هـره خـبره خـوږه وي. مـا بـه هـم ښـه پـه مینه اوریدې.

د کوچنيتوب ارزښت هغه وخت معلومېږي چې کله څوک زلمی شي بيا هر څوک وايي چې کوچنيتوب پاچاهي دی پاچاهي!

زما د پاچاهۍ وخت هم په تماميدو وو خو زه نه پرې پوهيدم اوس مې هم په ياد دی چې يوه شپه مې مور او پلار په ښوونځي کې زما د شموليت خبرې کولې ماهم له ښوونځي سره مينه پيدا شوې وه تل به مې په تلويزيون کې د دولت مامورين خوښيدل د دوی لباس به مې ډېر خوښ وو نور نه پرې پوهيدم چې دوی څوک دي او څه کوي خو يواځې همدومره پوهاوي راته بسنه کوله چې دوی ټولو ښوونځی لوستی دی. ښوونځی راته يوه بله نړۍ ښکاريده، يو بل ژوند مې بللو او هر وخت به مې د ښوونځي په هکله د مور او پلار څخه پوښتنې کولې.

يوه ورځ مې له مور وپوښتل:

کله چې له ښوونځي فارغ شم نو زه به هم په تلويزيون کې ښکارم؟

مور مې زما په وړاندې په گونډو شوه، دواړه طرفه يې ښکل کړم بيا يې په ټټر پسې جوخت ونيوم. يوه شيبه يې همداسې نيولی وم بيا يې وويل:

هو زويه!

دوی ټولــو ښــوونځی لوســتی او لــه ښــوونځي فــارغ دی نــو ځکــه د تلویزیون په پرده ښکاري!

بـالاخره هغـه ورځ هـم راورسـیده چـې پـه ښـوونځي کـې شـامل شـوم او د ښـوونځي لـومړۍ ورځ مـې اوس هـم یـادیږي چـې لـه حـده ډېـر خـوښ وم ځکه چـې لـه یـوې خـوا پـه یـوې نـوې نـرۍ کـې زمـا د نـوي ژونـد پیـل ؤ او لـه بلـه پلـوه مـې مـور او پـلار پـه هغـه ورځ ډېـر خـوښ و، نـو زه هـم ځکـه خـوښ وم خـو زه نـه پوهیـدم چـې مـور او پـلار مـې ولـې دومـره خـوښ وو اوس چــې لــوی شــوم پــه دې وپوهیــدم چــې هغــه ورځ زمــا برخلیــک ټـاکونکې ورځ وه نـو ځکـه مـې مـور او پـلار دومـره خـوښ وو. هـر مـور او پـلار د خپلـو اولادونـو لـه پـاره غـوره برخلیـک غـواړي او د برخلیـک د ټـاکلو پـه ورځ ډېـر احتیـاط کـوي او خـوښ وي. زمـا پـه ژونـد کـې ټـول بدلونونـه د همغـې ورځـې څخـه سرچینـه اخیسـتې دی. کـه پـه دې ځـای کې هغه خبره را واخلم ښه پیوند به واخلي:

زرګونه قدمه لار په یو قدم پیلیږي!

نـو زمـا د ښـوونځي لـومړۍ ورځ زمـا د زده کـړو بنسـټ وو. زمـا د ژونـد ټـول بدلونونـه او کړنـې لـه همغـې ورځـې پیـل شـوي دي، زمـا د ژونـد د لارې لومړنی قدم ؤ.

دلتـه ګـورم چـې د ښـوونځي پـه لـومړۍ ورځ زده کـوونکې پـه ښـوونځي کـې ډېـر پـه تنـګ وي ان تـر دې چـې بیـا څـو ورځـې ښـوونځي تـه هـم نـه

ځـې خـو زه بيـا داسـې نـه وم پـه لـومړۍ ورځ پـه ښـوونځي کـې دومـره خـوښ وم چـې د خوښـې لـه لاسـه پـه ورځـې نـه يـم پوهيـدلی لـه يـوې لـورې مـو ښـوونکي ډېـر مينـه ناکـه ښـځه وه او لـه بلـې لـورې يـوې نـوې نړۍ ته راغلی وم نوي ملګري مې وموندل او يو نوی چاپيريال وو.

پـر ښـوونکو بـه زده کـوونکې ډېـر ګـران وو. تـا بـه ويـل چـې ټـول د يـوې کورنۍ غړي دي.

نور ملګري او ټولګيـوال مـې لـږ شـوخ وو يـو بـل بـه يـې ځـوراوه خـو زمـا پـه غوږونو کې د مور سپارښتنو ځای نيولی وو:

تـل بـه مـې د زمـري، ليـوه او ګيـدړ صـفات پـه سـترګو کـې راتاويـدل، چـې دوی پر يو بل ستم نه کاوه. د دې حيواناتو له مينې اغيز من شوم.

ماشـوم وم نـه پوهيـدم تـل بـه مـې زمـرۍ، ليـوه او کيـدړ مـې انسـان او د دوی مينه به مې انسانيت بلله!

نـو مـا هـم پـه همـدې خـبرو تکيـه کولـه او لـه کوچنيتوبـه مـې پـه خپـل ژوند کې عملي کولې.

د ښـوونځي د دورې کلونـه مـې ښـه پـه شـور تېـر کـړل. لـه کوچنيتوبـه مـې د انسـان ژغـورنې مـوخې درلـودلې. لـه ځـان بـه مـې هغـه زمـری جـوړاوه چې له ټولو ځواکمن وو خو پر هيچا يې ظلم نه کاوه!

که ووایم چې زه لوی خدای ﷻ د هغې ټولنې له پاره نه وم پیدا کړی، یواځې د تولد ځای مې هغه ټولنه وه، هغه ځکه چې هیڅ انسان په خپله خوښه نشي- زیږیدلی نو دا منم چې زه په جاپاني ټولنه کې زیږیدلی یم خو لوی خدای ﷻ د افغاني ټولنې له پاره یوه ډالۍ وګرځولم.

د ښوونځي کلونو ته راګرځم، د ښوونځي کلونه تېریدل. ډېر ښه ښوونیز نظام مو درلود. په هر درسي ساعت کې مو د ژوند مختلفې چارې زده کولې.

د لومړي او دویم ټولګي په تمامیدو سره مې د خپلې ژبې په لیک او لوست برې ومونده او دربیم ټولګي ته بریالی شوم.

ټوله ورځ به ښوونځي کې وم، ځکه مور به سهار اوه بجې ښوونځي ته تللو تر ماښام اوو بجو پورې به هلته وو.

د ژوند هره چاره مو په ښوونځي کې زده کوله ان تر دې چې د پخلنځي په نوم مو هم درسي ساعت درلود، چې په دې درسي ساعت کې به مو د پخلنځي پاکوالی زده کاوه له یوې لورې به زده کړه وشوه او له بلې لورې به مو د ښوونځي پخلنځی هم پاک کړ.

د وخت په تېریدو سره لوړو ټولګیو ته ورسیدم. درس به هم پیچلی کېده او مسولیتونه به هم زیاتیده.

د هر استاد لیکچر راته د ژوند تر ټولو ښې او غوره خاطرې دي. که ژوند په نیمه لار کې پرې نه ښودم نو دا لیکچرونه به ټول ټکي په ټکي لیکم او د نړۍ ښوونکو ته به یې ډالۍ کوم.

د یو څو استادانو خبرې را اخلم.

د چیکا موري په نوم یو استاد به هر وخت راته ویل:

مور او تاسو دلته انسانیت له پاره زده کړې کوو او لویه موخه مو ژوندیو ته ژوند ورکول دي نه له ژوندیو ژوند اخیستل!!

مور به یې تل دې ته هڅولو چې بدي باید په بدې سره ځواب نه شي د بدۍ په وړاندې ښیگړه کول لوی انسانیت دی او داخبره به یې تل په خوله وه:

پر مور اټومي برید وشو، له مور ژوند واخیستل شو خو مور پر چا اټومي برید نه کوو او له هیچا ژوند نه اخلو!

د اونو په نوم د تاریخ مضمون استادې به تل سولیزې کلمې کارولې. یوه ورځ یې د هغه دولس کلن ځوان دسترگو لیدلی حال بیانوه چې د هیرو شما پیښه یې په ژوندونې لیدلې وه:

د اونو له سترگو اوښکو څرېکې وکړې بیا یې د پروجکتور پر پرده یو خړ یعنې تور اوسپین تصویر روښانه کړ. تصویر بدرنگ نه وو خو ډېر بدرنگ ښکاریدو.

بیا يې وويل:

ګرانو زده کوونکو! دا هارو تاناکا دی!

هارو تاناکا وايي:

زه دولس کلن وم، چې هېواد مو د جګړې په اور تود شو. يو زړه بورنوونکی حال رامنځ ته شو. له راډيو به مو له وژنې بله کلمه نه اوريدله. په لومړی ورځ مې د راډيو له لارې د يو نظامي قومندان له خولې واوريدل:

موږ وګټله!

جګړه به پای ومومي!

زه په دې خبره ډېر خوښ شوم. ځکه چې له جګړې ستړی وم او جګړه زما له پاره ستونزمنه وه.

په جګړه کې مې خپل راتلونکی تور ليدو، چې په يوه نس خوارو پسې به پښې توری او ببر سر په واټونو ګرځم. د جګړې له تورو لړو مې د زړه درزا زياتيده او د وحشت غږونه مې پکې اوريدل.

له بده مرغه چې زما وړاند وينې رښتيا شوې ځکه، همدا جګړه وه چې له مايي هرڅه واخيستل، پلار مې د فولادو په کارخونه کې کار

کاوه. د فولادو کارخونه له منځه لاړه خو له نیکه مرغه چې پلار مې ژوندی ترې را ووت.

هره ورځ به بمونه راباندې پرېوتل. د طیارو له غړو مو زړه برېښېدو. هر څوک د خپل ځان په فکر کې ؤ.

یو وخت ؤ چې د الوتکو یوه ډله راغله. د دوی لوړوالی کم و. له کم لوړوالي یې بمونه غورځول، توکیو یې په سرو لمبو واخیسته. زموږ په کور هم یو بم پرېوت، له هرڅه یې خلاص کړو.

د مور او پلار سره مې د سیمې یوې څنډې ته لاړم هلته مو په ډېرې ویرې شپه سبا کړه. هره دقیقه مو د جګړې انځور په سترګو کې ؤ.

سهار پرته له دې چې مور او پلار ته ووایم د یوې غونډۍ په پیڅه وروختلم. د غونډې سر ته لا نه وم ختلی چې بیا مې د الوتکو بړا واوریدله، و ویریدم خو څه مې کړې وای غلی پاتې شوم، ځای په ځای کیناستم. لږ وروسته مې یو لوی غږ واوریدو لکه ټوله نړۍ چې والوځي. سترګې مې وغړولې پر مخ مې بل ډول هوا ولګیده، په پوزه مې د باروتو بوی کش کړ، د سیمې پر مخ مې د لوګې لویې کتلې ولیدې چې د اسمان په لورې پورته کیدلې. د لوګې په کتلو کې مې د انسانانو څیرې لیدلې، دا حالت بیا ډېر ویروونکی وو.

له همغې ورځې مې نه مور ولیده او نه پلار!

د استادې لـه سـترګو بيـا اوښـکو څريکـې وکـړې، پروجکتـور يـې بنـد کـړ بيا يې وويل:

اخ جګړې!

څومره ماشومان مو بدرنګ کړل!

له څومره ژونديو مو ژوند واخيست!

بيا يې مخ را وتاو کړ او زموږ پر يو ټولګيوال يې غږ وکړ:

موراتا!

جګړه ښکلی خلک بدرنګوي!

بيا يې په ماکې سترګې ونيولې او ويې ويل:

جګړه ليونی سپی دی، چې پر چا ورغی هغه داړي!

جګړه له يو شتمن ملت سوالګر ملت جوړوي!

جګړه د يو ملت غرور له منځه وړي!

د استادې هـرې خـبرې بـه زمـوږ پـه زړونـو منګـولې لګـولې، لـه جګـړې او غچ اخيستلو يې زړه را تور کړ.

ليکچر يې را ټـول کـړ. اسـتاده ووتلـه بـل اسـتاد راغـی، هـر اسـتاد بـه مـو د وطـن پـالنې انګيـزه را ښـله. پـه همـدې ډول زمـوږ ټولـو اسـتادانو همـدا

لار نیولې وه. د همغو استادانو هڅې دي چې نن د جاپان هېواد د نه منلو پرمختګونه وکړل.

زموږ په هېواد کې جګړه دومره توره او سپیره وپېژندل شوه چې زموږ ځوان نسل یې دې ته وهڅولو تر څو و وایي:

نه مو څوک وژلی شي او نه څوک وژنو!

د دې خبرې کول او بیا یې په ژوند کې عملي کول اسانه کار نه دی، ځکه چې په همدې ځوانانو کې داسې ځوانان شته چې د چا پلار همدې تورې جګړې خوړلی دی او د چا مور. نو دوی به څنګه خپل غچ وانه خلي؟

جاپانیانو هیڅ څوک ونه وژل په هغه صورت کې چې له جاپانیانو ډېرو سړي خورو ژوند واخیست!

د مور سپارښتنو او د استادانو هڅو په برکت له ښوونځي په ښه هسکه غاړه فارغ شوم او د طبابت په برخه کې مې په زده کړو پیل وکړ.

د زده کړې په جریان کې مې هیڅکله هم داسې فکر نه دی کړی، چې زه دې په یو لوی روغتیایي مرکز کې په دنده بوخت وم. تل به مې د نړۍ د بیوزله ملت د خوارځواکو ماشومانو په هکله فکر کاوه. کله به چې په داسې فکر کې ډوب شوم ناڅاپه به مې دجګړې

د باروتو بوی په پوزه لګیدو. له ژوند یې ایستلی وم. له جګړې مې ویره او کرکه دواړه لرل. جګړه مې بده راتله نه مې غوښتل چې له جګړې سره جګړه وکړم نو ځکه مې له جګړې سره مبارزه پیل کړه تر څو مخه یي ونیسم.

ما د خپل ځان له پاره هیڅ ژوند نه دی کړی. ما ځان هېر کړی دی ما تل د داسې یو ملت په هکله فکر کاوه چې نه مې لیدلی وو او نه ترې خبر وم چې د نړۍ په کومه برخه کې به میشت وي؟

هغه کوم ملت دی؟

هغه جګړه ځپلی ولس دی!

که هغه له هر قوم وي، د هر دین او د هر مذهب پیرو وي!

زه یې په قوم، دین او مذهب کې کار نه لرم. ماته د دوی ژغورل ارزښت لري. ځکه چې خدای ﷻ مخلوق ته ژوند ورکړی، په مخلوق کې بیا ډېر څه شامل دي، له نباتاتو نیولې تر حیواناتو پوري. داسې نه ده چې خدای ﷻ یواځې یو قوم د ژوند کولو وړ بللی دی یا یې د یو دین او مذهب پیروانو ته د ژوند کولو وړتیا وربښلې دی او د نورو ادیانو او مذاهبو پیروان د ژوند حق نه لري. نو له همدې امله مې خپله موخه انسان ژغورل وګرځوله.

بس یوائحې همدا فکر مې کاوه چې د انسان ژغورلو تر ټولو ښه لار طبابت دی او یوائحې په همدې لاره مې د مور سپارښتنې سرته رسولی شم.

د کیوشو پوهنتون د طب پوهنځي ته مې لار ومونده، دا پوهنتون په هېواد کې څلورم تاریخي پوهنتون ګڼل کیږي. د هېواد پر مختللی پوهنتون دی. د محصلینو شمېر یې هم زیات دی. ډېر ښکلي او لایق استادان مو لرل. یوه ورځ مې یو پروفیسور ولیدو چې د محصیلینو په منځ کې ولاړ وو. داسې خبرې یې له محصلینو سره تبادله کولي تابه ویل چې ټول سره ملګري دي. د استاد او محصل خبره نه وه ټوله مینه او انسانیت وو.

په پوهنتون کې بیا تل پر مسلکي برخې غور کیده، د وطن پالنې په برخه کې په ښونځي کې راباندې خواري شوې وه او مور هم خپله خاوره له سرو زرو سره نه پرتله کوله او د خدای ﷻ لوی نعمت مو منلی و.

د پوهنتون کلونه هم په ټوپو وو، پر یو بل پسې تېر شول، د وخت په تېریدو سره د عصابو په برخه کې یو پیاوړی ډاکټر شوم. سپینه چپنه مې په تن کړه. د جاپان هېواد په بیلا بیلو برخو کې مې دنده ترسره کړه او د خپلو هېوادوالو د درملنې چوپړ مې ترسره کړ او شکر مې

اوباسلو چې د مور هیلې مې پوره کړې او د یو انسان د ژوند ژغورلو وسیله وګرځیدم.

نه پوهیږم چې له بده مرغه ووایم که له نیکه مرغه ووایم؟ په خپل هېواد کې مې روح خوښ نه و، ځکه چې هلته زما په څېر ډېر ډاکتران وو، هیڅوک له دومره سختو ستونزو سره نه وو مخ چې له ژونده دې لاس په سر شي او په نورو ټولنو کې مې بیا داسې ستونزې هم لیدلې چې د یوې کوچنۍ ناروغۍ پر وړاندې به هم ځینو ناروغانو له ژونده لاس ختلو. دا خبره بیا راته ځورونکې وه. خو نه پوهیدم چې دا ټولنه به کومه ټولنه وي؟

د ملګرو ترمنځ معلوم وم. ټولو مې احساس درک کړی وو. په همدې بنسټ یو وخت وو چې د جاپان هېواد د سولسیزې درملنې له موسسې سره یو ځای شوم له هېواده را بیل شوم د مسافرۍ شپې او ورځې مې پیل کړې. هغه ټولنه خدای ﷻ په ګوتو را کړه چې ما یې په هکله کلونه کلونه فکر کاوه. اوس مې د خپلې موخې په دویمه پوړۍ پښه ور کېښودله. په پیښور کې مو د کای په نامه ۷۰ بستریز روغتیایي مرکز جوړ کړ تر څو له جګړې را ستنیدونکو انسانانو درملنه وکړو. مختلف ناروغان به مو د ناروغۍ له کندې را ایستل. په ډېرو برخو کې مو ډاکتران درلودل. ورځ تر بلې به د ناروغانو شمېر په زیاتیدو وو، علت یې معلوم وو.

جګړه!

جګړه همداسې وي! ځینې وګړي له هستۍ خلاصوي او ځینې بیا له نیستۍ! د چا وینې پکې تویدلې او چا پکې وینې زبیښلې!

دا هم همداسې وه. د ملت خواره طبقه یې لا نوره هم خواروله او بډایه یې بیا په مستۍ راوستل.

زمونږ ډېری ناروغان افغانان وو، دوی په پېښور کې خپلې شپې او ورځې سبا کولې. وخت په تېریدو وو زه هم خوښ وم د ناروغانو درملنه مې ښه په ورین تندي ترسره کوله. د خوښۍ ترځنګ به د خواشینۍ شېې هم رابانديې لګیدلې. خوښي مې د انسان ژغورنې له مخې وه او خواشینې بیا په دې وم چې انسان ولې دومره بدرنګ شي چې د نورو انسانانو د کړاونو سبب وګرځي.

یو کال په همدې توګه ووت د دویم کال په پای کې مې داسې یو پلار ولیدو چې په لیدو یې پښیمانه شوم، حالت یې بورنوونکی ؤ. په سترګو کې مې اوښکې ورته ډنډ شوې.

ډاکتر بیا غلی شو د مخ په ګونځو یې سپینې غټې غټې اوښکې رواني شوې تا به ویل چې همدا اوس یې د کورنۍ کوم غړي ساه ور کړه.

ما هم په سپين کاغذ کې سترګې نيولې وي. ډاکټر صيب يوه شيبه وروسته له سره خړ پکول لرې کړ د ميز پر سر يې کېښود. د سر ويښتان يې نيغ نيغ ولاړ و او سرې سترګې يې نيولې وي په وچو شونډو يې وويل:

د کتنځي دروازه را خلاصه شوه. يو ٦٠ کلن سپين ږيری پر دروازه را ننوت. يو وچ، ډنګر او په رنګ تک تور ماشوم يې په شاه ؤ. يوه او بله خوا د ماشوم تور لنګي ترې ځوړند وو. د دروازې ترخنګ په ملا کړوپ شو له شاه يې تک تور وچ ماشوم کوز کړ. په يو لاس يې ماشوم نيولی وو او په بل لاس يې د لونګۍ شمله ونيوله پر پوزه يې کش کړه، له ځايه پورته شو، دواړه لاسونه يې د ماشوم له تخرګو ور لاندې کړ. را پورته يې کړ. پر څوکۍ يې کينولو. سپين ږيری د چوکې ترخنګ ولاړ و د ماشوم پر مټ يې لاس ايښی ؤ. ماشوم پر څوکۍ ځان نه شو ټينګولی. سپين ږيري توره ليکه داره لنګۍ له سره تاو وه، لنډه شمله يې پر مټ خوره وه، په ږيره کې يو نيم شين ويښته وو نور ټول سپين وو، غټې غټې سترګې يې وي، وروځې يې له يو بل سره نښليدلې وی او ببرې ښکاريدې.

د ماشوم دواړه پښې له کاره لويدلې وي، ښې پښې يې ښې لور ته او کينې پښې يې کيڼ لور ته کږوالی کړی و. لنګي يې تور غوړ پړقيدل، لکه د شړشمو په تيلو دې چې غوړ کړي وي. په ليدو يې

سخت وځوریدم، ځکه چې زموږ درملو نشو ژغورلی، نه یواځې ناروغ وو بلکې په نس هم وږی وو ، په تن نیمگړی او په جامه خوار ؤ. په دې شلو پښو له جگړې را تښتیدلی وو. په وطن کې یې سور اور بل و نو درملو به څه کړي وای.

ماته یو ځل بیا پخواني خوبونه را یاد شول او د استاد اونو هغه خبرو مې په غوږونو کې شور جوړ کړ چې ویل به یې:

جگړه له پلار زوی او له زوی پلار اخلي!

جگړه مور بوره کوي او اولادونه د مور له سیوري بې برخې کوي!

جگړه له ورور، ورور اخلي!

همدا جگړه ده چې انسان داړلو ته هڅوي!

جگړه ولس بې کلتوره کوي!

جگړه هغه اور دی چې فولاد ویلي کوي!

جگړه ظلم دی، تل پر مظلوم کیږي!

جگړه خړ سیلاب دی، هر څه له منځه وړي!

جگړه زهر دی، انسان وژني!

جگړه مو نوي نسلونه په تن نیمگړې رالویوي!

یوه شیبه مې ماشوم ته کتل خو هیڅ مې هم نه ویل یواځې دماشوم په تن او تورو لنګیو کې مې سترګې خښې کړې:

تور پیکی یې په مخ را خور ؤ. تکې توري سترګې یې تورې ځلیدلې. په ښکلې نرۍ پوزه یې سا اخیسته. بدرنګ نه ؤ خو جګړې بدرنګ کړی ؤ. په سترګو کې یې د مینې اوښکو ځلا کوله.

بیا مې سپین ږیرې ته سترګې ور واړولې. قرار ولاړ وو. سر یې ښې لورې ته لږ کوږ نیولی وو. بیرته مې په ماشوم کې سترګې ونیولې.

ماشوم مې هیڅ په کیسه کې هم نه وو خو سپین ږیرې همدا دوه سترګې را کې ګنډلې وې  او په دې تمه وو چې کله به پرې غږ کوم.

د ماشوم خوار لنګي به مې زر کاله وروسته هم له یاده ونه وزي. د سترګو په پردو کې یې یو څه رانه غوښتل خو غرور یې ډېر لوړ وو، تر شا یې جګړه وه، جګړې یې ژوند ور اور کړی وو. لنګي یې جګړې ور تور کړي وو.

زړه مې غټ کړ له فکرونو مې ځان را و ایستلو، ځان ته مې تکان ورکړ په مړه لحجه مې وپوښتل:

بابا د کوم ځای یاست؟

ډاکټر ته لازم نه ده چې د ناروغانو د ځای پوښتنه وکړي خو زه به تل د ناروغیو په علت پسې ګرځیدم نو د علت د پیدا کولو له پاره بیا د ناروغ په هکله پوره پوهاوی اړین دی.

د بابا وچې شونډې خلاصې شوې، شونډو یې وچ او تور پتري نیولې وو، اوږده سپینه ږیره یې وښوریده، زما پوښتنه یې لنډه را ځواب کړه:

له پولې هغه خوا را اوښتی یم.

د بابا په مخ کې هرې ګونځې مې په زړه کې چاړه وهله، د لاسو سپیره پوستکې یې له نیستی خبرولم او له لمن یې د جګړې د باروتو بوی ختلو.

د ماښوم درملنې وخت تېر وو، خو هسې د دوی د فکر بدلولو له پاره مې یو دوه ملهمه په یو سپین کاغذ ور ولیکل.

کاغذ مې ورکړ، ژر یې د دواړو لاسونو ګوتې ترې تاو کړي، کاغذ یې وغوړاوه، په کاغذ کې یې سترګې ونیولې تابه ویل چې پرې پوهیږي، فکر کوم یواځې د قلم رنګ یې لیدو چې پر کاغذ مې څه لیکلي که نه؟ بیا یې کاغذ همغسې غوړیدلی په دوه ګوتو کې نیولی وو. خیرن او چاود لاسونه یې پورته کړ، ویې ویل:

ډاکټره خوار مشي!

انسان تل له هغه څه ویرېږي چې پرې تېر شوي وي، بابا هم له خوارتوب ځکه ویریده چې د ده کورني یې لاندې کړې وه نو ځکه یې پر بل هم نه لوریدو.

د لاس د ګوتې په اشاره مې ځای ور وښودو، چې هلته لاړ شه تر څو درمل درکړي.

بابا بیا ماشوم ته خپلې وچې اوږې ور لاندې کړې، ماشوم یې په شاه واړاوه، په دروازه کې په ځنګ شو په ځنګو ووت. د ماشوم تور لنګې یوه او بله خوا زنګیدل.

د دروازې را بندولو له پاره بیرته راتاو شو، په اخیري ځل مې سترګې ورسره مخ شوې په سترګو کې یې د مننې یو ډول انځور ؤ.

خو دا ځل یې لیدل راته ډېر ستونزمن تمام شول. پیاده ته مې ورغږ کړ:

لس دقیقې مې یواځې پرېږده!

د پیاده عادت ؤ، په هره خبره کې به یې خبرې کولې، نو د خپل عادت له مخې یې وویل:

ناروغان خو لرو!

تندی مې تریو کړ په تنده لهجه مې وویل:

وايم لس دقيقې مې يواځې پرېږده!

دا ځل پياده وپوهيده همغسې يې وکړل ناروغان يې وځنډول.

يو څو دقيقې وروسته په دهليز کې د ناروغانو شور جوړ شو، دروازه مې ور خلاصه کړه ومې ويل:

راځئ هر څوک دې په خپل نوبت را ننوزي.

ناروغان هم ملامت نه وو. دوی په ستونزو کې وو. دا طبيعي خبره ده چې هرڅوک له ستونزو د خلاصون په لټه کې وي.

ناروغان را شروع شول ما هم پرته له ځنډه کتل خو نه مې ناروغ سم ليدلی شو او نه يې په ناروغۍ سم پوهيدم، بس هر ځای راته همغه د ماشوم تور لنگي ښکاريدل.

دا ورځ خو تېره شوه. شپه شوه توله شپه مې په ويښه تېره کړه کله به په يو لټ واوښتم او کله به په بل لټ. خوب مې ورک ؤ.

تر سهاره مې سترگې سره ور نغلې، سترگغلي مې پړسيدلي وو. سهار بيا پر خپله څوکۍ کيناستم د ناروغانو تگ راتگ پيل شو.

ناروغان مې هم کتل او له پولې د اوښتلو په هکله مې هم فکر کاوه. زړه به مې په پرلپسې توگه دا راته ويل چې د پولې په بله غاړه کې

راته یو لوی ملت په تمه دی.نو همدا وه چې یو څه وخت وروسته د تورخم په سرحد راواوښتم.

ډېره ښکلې سیمه وه خو طبیعي ښکلا یې د وخت جګړې سوې وه او له هرې کنډوالې به ویریدم. په دې سیمه کې جګړې ښه زور ازمایلی ؤ د انسانانو پوستکي یې وچ او سپیره کړي وو ډېری ماشومان یې خوار ځواکي تر سترګو کیدل، ځوانان یې نا هیلې، سپین ږیرې او سپین سرې یې اندیښمن ښکاریدل. جګړې خپلې نښې پرېښې وې.

لوی ولس وو خو لویې ستونزې یې لرلې. په سیمه کې وګرځیدم، په څو ورځو کې مې ټوله سیمه له سترګو تېره کړه. هر ځای مې ښه په غور سره ولیدو.

له ډېر فکر او دقت وروسته مې یو پلان جوړ کړ. په پلان کې مې درې روغتیايي مرکزونه په پام کې ونیول. دا مرکزونه مې په بیلابیلو ځایونو کې جوړ کړل. ډېر خوښ وم ځکه چې د همدې ناروغانو په درملنه مې د لوی خدای ﷻ عبادت ترسره کاوه.

له پیښوره راستون شوم ځکه چې زموږ ډېری ناروغان د پولې دې خوا وو. نو زه په خپلو ناروغانو پسې راغلم.

له نیکه مرغه چې د وخت په تېریدو سره درې واړو روغتیایي مرکزونو د ناروغانو په درملنه پیل وکړ خو له بده مرغه چې له نن به سبا ته د ناروغانو شمېر زیات وو. درمل مو هم باکیفیته وو ځکه موږ انسان ژغورلو انسان مو نه وژلو خو بیا هم دا یوه ستونزه وه چې ولې مو ورځ تر بلې د ناروغانو شمېر زیاتیږي؟

د همدې ستونزې په هکله به مې هر وخت شپه او ورځ پر ځان یوه کړې وه تر څو یې حل و مومم.

په سیمه کې وګرځېدم. ډېر داسې علتونه مې وموندل چې په هکله یې چا فکر هم نه وو کړی او موږ هم تري بې خبره ؤ.

د څو کلونو په تېریدوسره په دې وپوهیدم چې تر ټولو لوی علت یې په سیمه کې وچکالي وه. د پاکو اوبو نه شتون وو. زموږ د ناروغانو زیاته برخه به هغه ماشومان، ځوانان، سپین ږیرې او سپین سرې وي چې د کولمو په ناروغیو به اخته وو او همدارنګه په ماشومانو کې بیا خوارځواکي زور اخیستی ؤ. د هر ماشوم خوارې او ډنګرې څېرې به ځورولم! وچو لاسونو به یې د انسان په سترګو کې اوښکې پیدا کولې. ورځ تر بلې به یې وزن کموالی کاوه. په مخ کې به یې خوله او سترګې راوتلې وي.

د جاپان هېواد د سولیزې موسسې مشران مې خبر کړل او قناعت مې ورکړو چې د دې ناروغیو له منځه وړلو له پاره نه یواځې درمل

بسنه کوي بلکې د دوی د علت له منځه وړلو له پاره باید کار وشي، چې تر ټولو بنسټيز علت يې د پاکو اوبه نشتون دی. د مختلفو ناروغانو انځورونه مې ور وليدل د هغه ماشومانو انځورونه مې ور وليدل چې په بدن يې يواځې ګونځې پوستکي پراته وو، د پښتيو هډوکې به يې له ورايه شمېرل کېدل، وچې کلکې پښې به يې په ځان پسې ځکولې او د هر ليدونکي زړه يې دردولو.

زموږ مشران ډېر زړه سوانده خلک دي، له انسان سره مينه لري.

د خپلو مشرانو له خوا د هر ډول امکاناتو وعده را کړل شوه او زه يې د خپل هېواد تر ټولو ښه نماينده وګڼلم او نور يې هم وهڅولم ترڅو شته ستونزې له منځه يوسم.

نو د دې ستونزو د بنسټيز حل په موخه مې وويل:

په دې سيمه کې يو کانال د سلو ډاکټرانو څخه ګټور تماميږي!

اوبه ژوند ژغوري!

يواځې اوبه دي چې د دې سيمې انسانانو ته ژوند وربښلی شي!

همدا اوبه دي چې په نس وږي مړوي!

اوبه د جګړې د باروتو بوی وړي!

په دې ځـای کـې مـا هـم غـاړه تـازه کـړه او د خـبرو پـه مـنځ کـې مـې د پوښتنې په بڼه له خولې ور ووتل:

په همدې وخت کې مو له طبابت لاس وختلو؟

ډاکټر شونډې وچیچلې بیا یې وویل:

نـه، زه هیڅکله هـم لـه طبابـت لاس پـه سر نـه یـم شـوی، خـو طبابـت هـم پوله لري. ټولې ستونزې هم په طبابت له منځه نه ځي.

دا خبره مې په شعار اوښتې دی:

لوږه او تنده په درملو نه ورکیږي!

نو له همـدې ورځـې مـې د اوبـو پـه هکلـه خپلـې هڅـې عملـې کـړې او پـه سـیمه کـې مـو د وخـت پـه تېریـدو سره تقریبـا ۱۶۰۰ څاګـان و ایسـتل چـې دا پـه خپلـه د کولمـو د نـاروغیو د مخنیـوي پـه برخـه کـې خـورا لـوی بدلون وو.

کـه و وایـم چـې دې سـیمې څـوک نـه لـرل نـو سـمه بـه وي، ځکـه چـې انسـان پـه کـې لـه تنـدې جـل وهلـو. ډېـرې لـه ګرمـې تکـې تـورې سـوزیدلې وي. دا پـه هغـه صـورت کـې چـې د کـونړې سـیند اوبـه پـه مستیو بلې خواتـه تللـې. د کـونړ سـیند ګټـه نـورو تـه رسـیده خـو زیـان یـې بیـا همـدې سـیمې تـه رسـیدو. لـه نیکـه مرغـه چـې همـدا سـیمه اوس مختلفـې خـوږې میـوې را کـوي لـه هـرې ونـې میـوې راځـوړنـد دي. د

انسان وړې ګیډه یې مړه کړه. انسان ته یې سیوری جوړ کړ او په هوا کې یې د پام وړ بدلون رامنځ ته کړ.

په دې سیمه کې اوس په سلګونه ځاګان پاکې اوبه لري. د انسان کولمې مو وژغورلې او د ځمکو د خړوبیدو له پاره مو په لسګونه کانالونه ورتېر کړل، چې خوارځواکي یې له منځه یوړه.

ډاکتر صیب د چای پیالې ته لاس ور تېر کړ او ویې ویل:

چای درنه سړیږي.

د چای پیاله مې راپورته کړه. له لوښې مې د ګوړې توربخون بځرکې را واخیست د ژبې پر سر مې کېښود، د چای ښه غټ غوړپ مې پسې وکړ.

ډاکټر صیب هم د چای د پیالې له لاستې د لاس ګوتې چاپیره کړې وې لاس یې ښه موټی ښکاریدو، له غوړپ وروسته به یې له سپینو بریتونو لاندې له خولې سپینه لوخړه ووتله، ډېره په مینه یې له چای غوړپ کاوه.

د چای پیاله مې تر نیماي ورسوله د میز پر سر مې کېښوده. ډاکټر صبب سترګې راکې نیولې وې زه هم ورته ځېر شوم او پوه شوم چې څه راته وایي.

ډاکټر صیب هم له موقع ګټه واخیستله او ویې ویل:

چـای مـې ځکـه درتـه را وغوښـت چـې زمـوږ او تاسـو تـر تولـو ښـه میلمسـتیا همـدا چـای دی او همدارنګـه د یخنـې موسـم هـم دی پـه دې وخت کې تور چای بیا بل ډول خوند کوي.

عجیـب سـړی وو، ځـان یـې د همـدې ټـولنې یـو وګـړی شـمېرلو او هـیڅ د پردیتـوب فکـر یـې نـه کـاوه. ځـان ورتـه یـو جاپـان نسـله افغـان نـه بلکـې افغـان نسـله افغـان ښـکاریده. پـر افغـاني کلتـور مـین وو، ډېـر وخـت بـه یې په تن افغاني لباس وو، خړ پکول به یې په سر وو.

د چـای پیالـه یـې لا همغسـې پـه لاس کـې نیـولې وه او لـه لاسـتې یـې موټـی تـاو ؤ، زمـا د چـای د څښـلو پـه تمـه وو. مـا هـم دوبـاره پیالـه راپورتـه کـړه او چـای مـې پـه سر واړولـو. پیالـه تشـه شـوه د میـز پـر سر مـې کېښوده. ډاکتر صیب بیا په خبرو پیل وکړ:

مـا هـیڅ نـه دي کـړي بلکـې یـواځې د خپلـې مـور سپارښـتنې مـې عملـې کـړې دي. خـو پـه دې سپارښـتنو کـې بیـا انسـان تـه د انسـان پـه سـترګه لیـدل کیـږي. یـو انسـان بـل انسـان نـه داړي او طبیعـت پـه خپلـه ګټـه را څرخـوي! لکـه مـوږ چـې د کـونړ سـیند اوبـه راتـاو کـړې او پـه زرګونـه انسانان مو له ناروغیو خلاص کړل.

پـه دې شـاړو کـې بـه هغـه وخـت انسـان ویریـدو، د بـدرنګۍ تـورې لـړۍ خـورې وي لـیکن نـن پـه هـره لاره چـې ځـې د ونـو سـیورې دی او انسـان

ورځخه خوند اخلي، د بدرنګی ځای ښکلا نیولی دی. له هرې ونې میوې راځوړند دي او له طبیعت مو ګټه واخیستله.

موږ خو ګټې وکړې:

لومړی ګټه مو د ناروغیو کموالی وو، بله ګټه مو د ځوانانو د اذهانو جوړول وو ځکه چې دا سیمه یوه ښاره وه خو دومره بدرنګې یې هم نه لرله لکه د جاپان هېواد.

ډاکتر صیب یوه شیبه بیا غلی شو او ما ته هم حیرانوونکې ښکاره شوه چې د جاپان هېواد کومه بدرنګي به یادوي؟

جاپان خو بدرنګ نه دی!

جوپتیا یې ماته کړه خبره یې وغځوله:

په جاپان کې د ورځې څو ځلې زلزلې رامنځ ته کیږي او که و وایم چې په هره دقیقه کې د جاپان ځمکه ښوریږي نو سمه خبره به مې کړې وي. دا چې موږ په داسې یوې سیمې کې ژوند ته کار وکړ او له ژوند مو ژوند جوړ کړ نو افغانان ولې له یوې داسې سیمې چې یواځې اوبه نه لري د جنت نښې جوړې نه کړي؟ اوبه هم لري، یواځې ورګرځول غواړي، سیندونو ته یې نور ځنې اچوي. په شته اوبو کې یې ځمکې شاړې دي.

که چېرې زموږ په هېواد کې بل څوک وای نو فکر کوم په دې پلمه به یې هیڅ نه وای کړې چې دلته تل زلزلې وي نو دلته ژوند کله کیږي لیکن موږ ډېر څه وکړل. له موږ خو افغانان کلک خلک دي ایا دوی به ژوند ته کار ونه کړي؟

هو کولای یې شي خو دلته څوک له چا سره مینه نه لري هر څوک د خپل ځان په غم کې ډوب دي. د دې پر ځای چې ستونزې حل کړي ستونزې رامنځ ته کوي.

په دویم قدم کې مو پر کانالونو کار پیل کړ تر څو د نیستی لمڅی ور تول شي او په راتلونکې کې هیڅ ماشوم مو خوارځواکی نه وي همدارنګه هر څوک له خپلو متو خولې وڅڅوي، ورغوي تناکې کړي او ځان ستړی کړي، نو په پایله کې به یې ګټه هم نورو ته ورسیږي او هم ځان ته!

موږ او تاسو باید تل خپل کارونه په دې ډول ترسره کړو چې نه موږ ته زیان واړوي او نه بل ته!

زه همداسې کوم. له ملګرو او د سیمې له خلکو سره په ملګرتیا کار کوم. هیچا ته زیان نه اړوم. هر چاته مې ګټه رسیږي. دوی تول راسره خوښ دي.

له بده مرغه چې په دې ټولنې کې درې ډلې انسانان ژوند کوي. یوه ډله یې یواځې د خپلو ګټو په هکله فکر کوي، بله ډله یې بیا دومره په بدبختی کې ډوب دي چې نه د خپل ځان په هکله فکر کوي او نه د بل چا په هکله فکر کوی شي او درېیمه ډله بیا داسې خلک دي چې لومړی د نورو په هکله او وروسته د ځان په هکله فکر کوي، چې دا ډله انسانان په دې ټولنه کې ډېر لږ دي.

د ډاکټر صیب خبرې مې بیا ور ماتې کړې، ومې ویل:

الفت صیب وایي:

ډېر تفاوت دی په انسان کې د معنی په لحاظ

واړه لګیا دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي

د الفت صیب په دې بیت سره ډاکټر صیب په فکر کې شو او ویې ویل:

زه ډېره مطالعه لرم. په نړی کې تمدون ته ژمن خلک افغانان دي. یوه ورځ مې له رادیو واوریدل چې یو څېړونکې د خوشحال خان خټک پر اشعارو څېړنه کړې وه. له څېړنې وروسته یې په زباد ورسوله چې تاسو ټولې نړی ته د تمدون درس ورکړی دی. که اوس د الفت صیب په بیت فکر وکړو نو یو کتاب خبرې پکې پرته دي! پر تاسو

ډېره خواري شوې دی خو نه پوهېږم چې ولې تاسو بیا هم دومره خوار او زار یاست؟

ژوند یو لمځی دی. په دې لمځي هر څوک وړې کیږدي او هر څوک خپلو وړیو ته ځانګړی رنګ ورکوي. له بده مرغه چې د ژوند په لمځي کې ستاسو د وړیو رنګ تت دی او له وړیو مو تل د جګړې د باروتو بوی خیژي.

فکر کوم چې دا خبره به سمه وي چې خبرې هرڅوک کوي خو عمل سخت دی!

عمل کول اسان کار نه دی!

د دې پر ځای چې موږ خبرې وکړو باید عمل وکړو!

دې سیمې ته د کانالونو په ور تېرولو سره د زرګونه کورنیو په ژوند کې بدلون رامنځ ته شو. هره کورنۍ په خپلو پښو ودریده. اوس د هرې کورنۍ ورځنۍ چارې په کښت پیلیږي. په دې یولسو کانالونو سره تقریبا یو میلیون افغانان له ستونزو وژغورل شول.

موږ نږدې یو میلیون انسانان دې ته وهڅول چې د ژوند له ځغاستې سره سیالي وکړې، په ببر سر او لوڅو پښو له ژوند سره وځغلي او په سیالۍ کې بریالي شي.

موږ به چې کله د کانال په چارو کې کار کاوه زما کار نه ؤ معلوم کله به مې په ماشين کندې ايستلې، کله به مې له نورو کارکوونکو سره په ګډه په بوجيو کې کانې راوړل او کله به مې هم هغه کار ترسره کاوه چې هر کارکوونکې به ځان ترې ايستلو.

زه د مور او پلار نازولی زوی وم. زده کړې يې را باندې وکړې يو پياوړی ډاکتر يې راځخه جوړ کړ.

په هېواد کې مې ښکلی ژوند دی!

ښه کورنۍ لرم

ښکلې ميرمن لرم

ښه هېواد لرم

دې ته څه اړتيا دی چې زه دې په بوجيو کې کانې واچوم او له نورو کار کونکو سره يې يوسم؟

ستاسو په هېواد کې داسې يو ډاکټر را وښيه، چې د خپل هېواد له پاره خپل فيس نيمايي کړی وي؟

داسې يو اينجينير را وښيه چې له کار کوونکو سره کار وکړي؟

داسې يو ښوونکی را په ګوته کړه چې خپلو کمزورو زده کوونکو ته له رسمي وخت وروسته نيم ساعت وړيا درس ورکړي؟

داسې یو ریس را وښیه چې په خپله شعبه کې په خپلو لاسونو په بخارۍ کې اور بل کړي؟

په دې ټولو کارونو دوی ته خپل ځان کم ښکاري!

تر هغه چې کار ونه کړو هېواد مو نه جوړیږي!

راځئ چې له ټاکلي وخت یو ساعت زیات کار وکړو. زه مو ضمانت کوم چې په لسو کلونو کې به د جاپان هېواد سره په سیالۍ کې ودریږو.

په دې هېواد کې دومره ستونزې دي چې د جمعې په ورځ هم باید کار وکړو خو له بده مرغه چې زه یې وینم د پنجشنبې په ورځ هم دوی کار نه کوي!

روخصتۍ مو له شمېر وتلې دي!

ما سره د سیمي خلکو ډېره مینه کوله ټولو به له مینې راته مراد کاکا ویل.یوه ورځ یو ځوان د کار پر مهال راته وویل:

مراد کاکا وخت مو پوره شو!

د ځوان دې خبرې سره مې په سر کې غورا جوړه شوه ډېره بده اغیزه یې راباندې وکړه فکر مې کاوه چې یو ځوان ټولې نړۍ ته بدلون

ورکولای شي نو دا څنګه څوان دی چې د خپل هېواد د ژغورلو له پاره یو څو دقیقې زیات کار نه شي کولای؟

له ډېره تاوه مې په شونډو مسکا خوره کړه او ومې ویل:

دا خو سمه ده چې د ورځنۍ اجورې له پاره مو یو څو ساعته کار وکړ خو د هېواد له پاره یو ساعت زیات کار هیڅا ونه کړ؟

زما په دې خبرې سره ټولو کارکوونکو سرونه راپورته کړل او کار یې ودرولو، ټولو زما په لورې سترګې را ونیولې.

زه هم حیران شوم، ویره راسره پیدا شوه، فکر مې کاوه چې ممکن خبرو مې بده اغیزه پرې کړې وي خو داسې نه وه. دوي ټولو په یو غږ وویل:

ټول عمر به د هېواد له پاره کار کوو له نن وروسته به د خپل هېواد له پاره هره ورځ له خپل کارې وخت یو ساعت زیات کار کوو!

نو دا ورځ زما له پاره بیا بل ډول ورځ وه. د مور وصیت مې را په یاد شو چې:

ژوند وکړه او نورو ته ژوند ورکړه!

که څه هم دا خبره ډېر اړخونه لري خو زه یې له همدا یو اړخ ورته ګورم چې:

کار وکړه او نور په کار راوله!!

ځکه چې د ژوند بل نوم کار دی!

نو په لوړ غږ مې وویل:

موږ وګټله!

ټولو چکچکې کړې.

له چکچکو وروسته مي وویل:

همدا کار به مو د جاپان هېواد سیال کړي!

همدا کار به مو له سولې برخمن کړي!

کار د وږي نس مړوي!

کار نیستمن شتمن کوي!

کار به مو تر اسمان ورسوي!

خبرې مې پر ټولو ښې ولګیدلې، بیا یې په کار پیل وکړ.

ډاکټر صیب بیا د لاسونو له ګوتو ټکا و ایستله یوه شیبه وروسته یې بیا په خبرو پیل وکړ:

له بده مرغه چې په ځینو ټولنو کې ناغیرې په مستۍ سره ورځ په ورځ پړسیږي او ناغیرې بیا:

مور نس وړی کوي!

شتمن تر نیستۍ رسوي!

له ژوندي مړی جوړوي!

نو مور د سیمې وګړو ته دا څرګنده کړه چې زه له کوم ځای راغلی یم او ستاسو د ښه ژوند په موخه هلې ځلې کوم، پر سر خاوري ایرې بادوم. نو تاسو خو د همدې ټولنې یاست نو بیا ولې ناغیرې کړی؟

د ډاکټر صیب له سترګو بې دریغه اوښکې روانې شوې، یوه شیبه یې ښه وژړل بیا یې د میز له سره کاغذ را واخیست سترګې یې پرې وچې کړې. له مایې ښښنه وغوښته:

افغان صیب ما اوبښه!

اوښکې مې ټینګې نه کړې.

یوه شیبه چوپ وو بیا یې وویل:

مور د خپل سر په قیمت کار کوو. یو څه وخت وړاندې د کازویا ایتوی په نوم ۳۱ کلن ملګری یې را وواژه!

دلته کار کول ډېر ستونزمن دي. خپل سر به په لاس کې نیسې بیا به کار کوې. زه نه پوهیږم چې انسان دې ولې دومره بدرنګ وي چې د خپل نس د ډکولو له پاره د بل په نس چاړه ومندي.

زه له مرګه نــه ویریـږم. زه بـه کـار کـوم کـه همـدا نـن مـې هـم څـوک وژني له کاره به لاس نه اخلم.

په دې هم پوهیږم چې یوه ورځ به مې د وطن دوښمنان وژني!

هیڅ پـروا یـې نـه لـرم. زه بـه ویـاړم چـې خپـل هېـواد تـه د خـدمت پـه تـور ووژل شم!

د ډاکتـر پــه شــونډو بیــا مســکا وځغلیــده خــو دې مســکا بیــا بلــه بڼــه درلوده. په ورو غږ یې وویل:

دا بیا وژل نه دي، بلکې د تاریخ ګټل دي!

په دې خبرې سره حیران شوم چې دا کوم هېواد یادوي!؟

جاپان؟ که افغانستان؟

کوم تاریخ ګټي؟

نه پوهیږم، چې ډاکټر یې وبولم، اینجینیر یې وبولم او که اروا پوهـ؟

زما په حیرانتیا وپوهیدو نو ځکه یې وویل:

مه حیرانیږه زه اوس افغان یم!

ولسمشرـ محمـد اشرف غنــي د افغانســتان افتخـاري تابیعـت راکـړ او پـر دې ویاړم چې زه د افغانستان تابیعت لرم!!

د افغانستان تابعیت مې واخیست!

پښتو او دري ژبې مې زده کړې!

افغاني کالي مې په تن کړل!

د سر په بیه خپلې خاورې ته خدمت کوم!

منم چې ملګری یې را ووژلو او ما به هم یوه ورځ وژني لیکن له بله پلوه بیا زما کارونه ته پوره درناوی کیږي هر څوک مې د غوره سړي په توګه پیژني.

د یو څه وخت کار کولو وروسته چې خورا ښې پایلې یې درلودلې د رامون مګ سه سه په نوم د یوې جایزې مستحق وګڼل شوم، چې ارمان پاله او عمل پاله خلکو ته ورکول کیږي. دا جایزه د اسیایي نوبل جایزې په نوم هم یادیږي او د نوبل جایزې په کچه ارزښت لري.

د دې جایزې په ترلاسه کولو مې هڅې یو په درې شوې څکه چې په دې مې باور پیدا شو چې د ځمکې پر مخ ډېر داسې خلک شته چې له انسان سره مینه کوي.

له دې جایزې لس کاله وروسته د خپل ښار د بې بدیله خدماتو د ترسره کوونکي لقب راکړل شو.

ډاکتر بیا یوه لنډه خندا وکړه، په خندا یې وویل:

دا جایزه هر چاته نه ورکول کېږي. د ۲۴ جاپانی یم چې دا لقب مې وګټلو، دا جایزه لیکوال یا هنرمند ته ورکول کیږي.

له دې درې کاله وروسته د چین دولت یو لوړ او مهم نښان راکړل شو. دا نښان د جاپاني امپراطورانو له خوا جوړ شوی دی او هر کال هغه چاته ورکول کیږي چې د چاپیریال ساتنې او د ژوند په ښه والي کې یې مندې تړې کړې وي.

د دې نښان نوم ډېر ښکلی دی!

په زړه منګولې لګوي!

آیا پوهیږې چې څه نومیږي؟

د نه په معنا مې سر وښوراوه.

شونډې یې ویړې شوې په مسکا یې وویل:

د دې نښان نوم دی د « لمر ختل» !!

کله مې چې نښان تر ګوتو راورسیدو ډېر ترې اغیزمن شوم او له ځان سره مې وویل:

تیارو ته به رڼا رسوم!

په دې وخت کې بیا همغه ببرسترګی ځوان را ننوت. زموږ په وړاندې ودریدو ویې ویل:

ډاکټرصیب ډوډۍ تیاره دی.

د ډوډۍ وخت هم وو خو دا خبره په ما ښه ونه لګیدله ځکه زه عادت وم تر هغه چې کار مې نه وي خلاص کړی نو ډوډۍ مې نه خوړله او له بل پلوه مې له ډاکټر صیب زړه نه کېدلو. هره خبره یې ملغلره وه او عملي کول یې زموږ د ټولنې د هر ټپ له پاره پټۍ وه.

پر مرکې مې بیا فکر وکړ چې کومه پوښتنه راځخه نه وي پاتې شوي. یو لنډ فکر وروسته مې ډاډ ترلاسه کړ چې ټولې پوښتنې مې ځواب شوي دي.

کاغذونه مې په بکس کې کېښودل. له ځایه پورته شوم ډاکټر صیب مې له لاسه بکس واخیست د یوې المارۍ په لاندې خانه کې یې کېښود.

اوس یواځې د انځورونو اړتیا وه چې ترلاسه یې کړم نو ومې ویل:

انځورونه مو له کوم ادرس واخلم؟

ویې خندل بیا یې وویل:

فلش دې راکړه.

فلش مې ورکړ. په دفتر کې يو زوړ ډيسک ټاپ کمپيوټر ايښى وو. د کمپيوټر په سې پې يو يې فلش ور ومنډلو او سکرين ته په ملا کړوپ شو. د عکسونو مکمل فولډر يې ورسنډ کړو. يوه شيبه وروسته په سکرين کې شنه پټۍ ورکه شوه او فلش يې تړې ويست بيرته يې ماته ونيوه.

دواړه له دفتره ووتلو په دهليز کې مو لاسونه پريمنځل. په يوه بله کوټه يي ور ننه کړم. دسترخوان هوار و او خواړه پرې ايښي و.

ټول دوه دوه نفره سره کيناستل خو موږ درې نفره شوو. يو زه وم، بل ډاکټر صيب او دريم اشپز وو.

ډاکتر صيب مسک شو ويې ويل:

زه تل ډوډې له دې ملګري سره يو ځاى خورم نه مې خوښيږي چې يواځې ډوډۍ وخورم!

پر دسترخوان افغاني خواړه ايښې و. د ډوډۍ په خوړلو مو پيل وکړ. ما د سترګو په کونجونو کې ځارلو.

ښه په خوند مو ډوډۍ وخوړه. دسترخوان ټول شو . زه هم ډاکټر صيب ته په تمه وم چې نور څه کوي.

په کوټه کې ټول ناست وو. يو بل ځوان ته يې مخ ور واړوه. ترې ويې پوښتل:

موټر دې جوړ دی؟

هغه وويل:

هو جوړ دی.

بيا يې ماته مخ را واړاوه پړسيدلې سترگې يې وځليدې په خندا يې وويل:

که خوښه دې وي کارې ساحې ته به لاړ شو اوس به هر څه له نږدې نه ووينې.

ما هم کومه پلمه ونه کړه، څکه په همدې کار پسې راغلی وم، ومې ويل:

سمه ده لاړ به شو.

موټر وان له ځايه پورته شو له کوټې ووت.

موږ هم لږ وروسته پسې ور ووتلو.

زه د موټر تر څنگ ولاړ وم چې ډاکټر صيب زما بکس په اوږه کې را اچولی ؤ او لنډ لنډ قدمونه يې را پورته کول. څنگه مې چې وليدو ور وړاندې شوم بکس مې ترې ونيولو.

موټر تــه ور پورتــه شــوو. د مختلفــو پــروژو څخــه مــو ليدنــه وکــړه. پــه ټولــو هغــو کانــالونو وګرځېــدو چــې د نيســتۍ لمڅــی يــې ور ټــول کــړی ؤ.پــه هــر کانال کې د اوبو شنې مړې اوښتلې او د هر ليدونکې پام يې خپلوو.

پـه پـای کـې د ښـيوې پـارک تـه لاړو. د پـارک لـه چوکيـدار ښايسـته خـان سره مو ستړې مشې وکړې.

پـارک تـه ننـه شـوو. پـارک لـه ځوانـانو ډک وو. ځـای ځـای ډلـې ډلـې ځوانان ناست ؤ. د پارک په خولې کې له يو ځوان سره مخ شوو.

د ستړې مشې پر مهال ځوان د ډاکتر صيب لاسونه ښکل کړل.

پـه دې کـار سره د ډاکټـر صـيب پـه سـترګو کـې اوښـکې وځليـدې بيـا يـې ځوان په سر ښکل کړ او ويې ويل:

هڅه وکړئ چې عمل وکړی خبرې خو هر څوک کوي!

فکر کوم دا يې شعار وو ځکه تل به يې په ژبه وو.

بيا يې خپلې خبرې اوږدې کړې:

موږ بايد له ټاکلي وخت يو ساعت زيات کار د هېواد له پاره وکړو!

لـه ځـوان سره مـو خـدای پـا امـانې وکـړه. د پـارک بـرې خواتـه روان شـوو. يو څو قدمه مو نه وو اخيستې چې له يو سپين ږيرې سره مخ شوو.

خو دا ځل مې بيا بل څه وليدل:

ډاکټر صیب د سپین ږیري لاسونه په لاسو کې ونیول بیا یې شکل کړل. ماته یې مخ را واړاوه او ویې ویل:

دې سپین ږیري له دې ګونځې پوستکي ډېرې خولې تویې کړي دي. له دې ګونځې پوستکې به د خولو بوی ختلو. هر وخت به یې پر خپل کاري ټیم غږ کاوه چې نن ورځ به یو ساعت نه بلکې یو نیم ساعت له خپل ټاکلي وخت زیات کار کوو.

هغه دی نن د دوی د خولو له برکته څومره انسانان له ښه ژونده برخمن دي!

څومره ماشومان یې له خوار ځواکی وژغورل!

څومره ناروغانو ته یې روغتیا ور په برخه کړه!

د سپین ږیري پر مټ یې لاس وټپاوه او بیا یې وویل:

دا ټول د همدې سپین ږیري د ګونځې پوستکې د خولو برکت دی.

سپین ږیری مو ترمنځ روان وو د پارک په بر سر کې را تاو شوو. په پارک کې ډېر کار شوی ؤ. له هرې ونې میوې را ځوړند وي، اوبه وي او ونو دروند سیوری جوړ ؤ.

دا همغه ځمکه وه چې یو وخت پکې شین بوټی نه لیدل کېدو او تړوله شاړه وه، لیکن اوس د ډاکټر صیب په هڅو په یو پارک اوښتې

وه او د ښاپیریو باغ تـرې جـوړ وو. ډلـې ډلـې ځوانـان پکـې گرځیـدل را گرځیدل.

لـه پـارک را ووتلـو لـه ښایسـته خـان کاکـا سره مـو خـدای پـا امـاني وکـړه. زه، ډاکټر صیب او سپین ږیری درې واړه موټر ته ورپورته شوو.

موټرچلـونکې ډېـره ښـه چلونـه کولـه تـر دفـتره یـې پـه ډېـر ښـه چلنـد را ورسولو. له موټر درې واړه ښکته شوو موټر په دروازه ننوت.

لـه ډاکټـر صـیب مـې مننـه وکـړه بیـا مـې لـه دواړو سره خـدای پـا امـاني وکړه.

دوی په خپله مخه روان شول او زه په خپله مخه.

په لاره روان وم.

خپل ځان ته په غصه وم.

ټول افغانستان ته په غصه وم.

له خپل ځان مې کرکه کېدله.

له هر افغان مې کرکه کېدله.

ځکـه مـوږ دومـره بـې همتـه خلـک یـو چـې د درملنـې خـبرې خـو پریـږده چـې د عبـادت ځایونـه هـم نـور راتـه جـوړوي او بیـا مـوږ پکـې تینگـې تینگـې کلمـې تېـروو. ځانونـه تـر نـورو ګلـک مسـلمان بولـو او افغانیـت مـو

د میرانـې ننښـه گرځـولې پـه هغـه صـورت کـې چـې نـه مـو اسـلام تـه خدمت وکړ او نه مو خپلې خاورې ته.

نه د اسلام شوو او نه د افغانستان شوو!

وخت ناوخت وو د کـور اراده مـې وکـړه تـر تـم ځایـه پلـی راغلـم. د مـوټر تـر څنګ ودریدم چې موټر وان را ورانديې شو او ویې ویل:

که ځې خو یو کس کم دی؟

د مـوټر چلـونکې د یـو کـس کـم دی خـبره سـمه رابانـدې اور شـوه خـو څـه مې ونه ویل په پټـه خولـه مـوټر تـه ور پورتـه شـوم تـر کـوره چـې رارسـیدم د ماښـام اذان یـې وکـړ. د دروازې د زنـګ پـه تنـۍ مـې ګوتـه تینګـه کـړه د کـور پـه انګـړ کـې د زنـګ چغـا وختلـه دروازه لیـرې شـوه کورتـه ننـوتم ماشـومانو سره مـې روغبـړ وکـړ کـوټې تـه لاړم بکـس مـې کېښـود اودس مـې وُ جـاینماز مـې ویـړ کـړ لمـونځ مـې ادا کـړ خـدای ﷻ د قبـول کـړي جـاینماز مـې تـول کـړ. کاغـذ او قلـم مـې را واخیسـت، پـه لیکلـو مـې پیـل وکـړ چـې د ډاکټـر تېتسـو ناکـامورا پـه ژونـد لیکنـه ترتیـب کـړم تقریبـاً پـه نـیم سـاعت کـې مـې بشـپړ کـړه . کاغذونـه مـې پـه بکـس کـې کېښـودل چې سهار ته یې په دفتر کې په کمپیوټر تایپ کړم.

د ماښـام ډوډۍ تیـاره وه دسـتر خـوان ویـړ شـو. تـول لـه دسـترخوان تـاو شـوو غـوري یـې پـه دسـترخوان کېښـودل پـه غوریـو کـې ښـه ترخـه شـوله

پرتـه وه او تاوونـه تـرې ختـل د سـبزۍ لـه قـاب مـې نـيم نـارنج را پورتـه کړ په دوه ګوتو مـې ټينـګ کـړ. څريکـې يـې وکـړې پـر وريـژو مـې وڅڅولـو پـه ښه اشتها مو ډوډۍ وخوړه.

ماشـومان پـر خپلـو درسـو بوخـت شـول مـا هـم تلويزيـون چـالان کـړ د شمشـاد پـر څپـو مـې د بي بي سي نـيم سـاعته خـبرې ټولګـه تعقيـب کـړه او وروسـته مـې د همـدې چينـل لـه لارې د ټـاکنو خپرونـه او بيـا خـبرې سرويـس و څـارلو. لـه اتـو درې دقيقـې تېـرې وي چـې تلويزيـون مـې بنـد کړ.

د ژونـدی د وي وطـن پـه نـوم د عزيـز نسـين کتـاب پـه ژبـاړه مـې پيـل وکـړ تقريبـاً درې صـفحې مـې وژبـاړو نـوره ډډه مـې نـه ورتـه لګيـده هغـه مـې هم پرېښود.

د ماخوسـتن د لمـونځ وخـت وو، پاڅېـدم لمـونځ مـې وکـړ خـدای ﷻ د قبول کړي.

پـر توشـک وغځيـدم د وجـود شـخې مـې و ايسـتله يـو څـو دقيقـې پـه يـو لـټ او بـل لـټ واوښـتم نـور پـر ځـان نـه يـم پوهيـدلی يـو وخـت وو چـې د سهار لمونځ ته را پاڅيدم اودس مې وکړ لمونځ مې ادا کړ.

د باندې ووتم په زرغونه ساحه کې وګرځېدم تازه هوا مې واخيسته د ونو او بوټو له زرغون رنګونو مې ښه خوند واخيست يوه شيبه وروسته بيرته ننه شوم.

سهارنی تيار وو په ګډه مو له ماشومانو سره وخوړ. کورتي مې را واخيسته پر اوږو مې واچوله، پر ځان مې تاو کړه، جرابې مې په پښو کړې. د بکس پټۍ له اوږو تاو کړې او له ماشومانو مې خدای په امانې واخيسته له کوره را ووتم د کوڅې سر کې موټر ته ودريدم.

موټر راغی، لاس مې ورکړ د موټر په شا سيټ کې درې نفره ناست وو موټر وان د خدای ژوندی لري زه يې څلورم نفر ورځای کړم د شاتني سيټ درې نوره سپرلۍ هم راسره ښې په تنګ شوې خو څه مې کړي وای دا خو زموږ د موټروانانو دود دی چې دوه تنه مخکني سيټ کې څلور تنه شاتني سيټ کې کينوي. موټر حرکت وکړ له تيرو يې خرې دوړې پورته کېدلې لاره لنډه وه خو سخته کندې کپر وه. يو څو دقيقې وروسته تر تم ځايه ورسيدم له موتر ښکته شوم موتر وان ته مې د افغانيو سلګون ونيوه په جينګه خوله يې وويل:

کلداري نه وي درسره؟

له ډېره تاوه مسک شوم ومې ويل:

همدا مو خپله سيکه دی هر څومره چې ترې ګرځوي ويي ګرځوه!

موټر چلونکې سره په جيب کې افغانۍ نه وې د نورو سپرلیو یې کرایه راټوله کړه ماته یې اویا افغانۍ را کړې.

پیسې مې جیب ته کړې د دفتر په لورې روان شوم. تقریبا لسو دقیقو کې تر دفتره ورسیدم. پر کارونو مې پیل وکړ تر غرمې مې د تېرې ورځې هغه کارونه چې د ډاکټر تیتسو ناکامورا د مرکې له امله را نه پاتې وو تکمیل کړل. ډوډۍ تیاره شوه ډوډۍ مو وخوړه چای مو وڅښلو بیا مې پر خپلو کارونو پیل وکړ د ډاکټر تیتسو ناکامورا مرکه مې را واخیسته په کمپیوټر مې ټایپ کړه د مرکې د پای پاراګراف ؤ چې حامد وویل:

اخ ظالمه!

د اخ په اوریدو مې سترګې ور پورته کړې. لاسونه مې په کیبورډ ایښې ؤ.

حامد د موبائیل په سکرین کې سترګې نیولې وې. په وارخطا توګه مې وویل:

څه شوي؟

د حامد له سترګو اوښکې څڅېدې، په ژړغوني غږ یې وویل:

ډاکټر یې وویشت!

حیران شوم ومې پوښتل:

کوم ډاکټر؟

په بنده ژبه یې وویل:

جا.. جاپانی ډاکټر!

د زړه درزا مې زور واخیست. په بیړه مې تلویزیون چالان کړ، همدا شیبه د تلویزیون په پرده همدا خبر ؤ:

پر ډاکټر ناکامورا د نا پیژانده وسلوالو له لوري برید وشو. په پښښه کې پنځه تنه وژل شوي او ناکامورا ټپي دی!

په دې خبرې سره مې ټکان وخوړ د پرونی ورځې هره شیبه مې سترګو سترګو ته کیده.

د وجود غړي مې شل شول د پورته کیدو توان مې نه درلوده خو په ډېرو ستونزو او مشکلاتو له ځایه پورته شوم له نورو ملګرو سره یو ځای له دفتره ووتم. د حامد موټر ته پورته شوم په شلو دقیقو کې تر روغتون ورسیدو په روغتون کې ډېر بیرو بار وو خو موږ هغه عاجل خونې ته ور روان شوو چېرته چې ډاکټر صیب ؤ.

تر دهلیزه ورسیدو. د دروازې مخې ته ولاړ وو، چې دروازه را خلاصه شوه او نرسانو غږ وکړ:

ایسته شئ عاجل دی عاجل!

مور هم لار خوشي کړه، نرسان له ډاکټره را تاوو ؤ.

په لیدو یې بې دمه شوم لاس او پښې مې له کاره ولویدې سترګې مې رډې رډې را و وتلې د ډاکټر پر خبره لا همغسې مسکا خوره وه په ډېرو ستونزو ور نږدې شوم تر سر یې لا نه وم رسیدلی چې سپین بریتونه یې بیا وښوریدل، سر یې لږ را پورته کړ ویې ویل:

افغان صیب:

زه درنه لاړم!

وطن مې.....

وطن مې درسپارم!

وطن مې وژغوره!

د همدې خبرې په کولو سره یې سترګې پټې کړې او سر یې کېښود.

نرسان په ځغاسته تر امبولانس ورسیدل، ډاکټر یې پر امبولانس ور پورته کړ د امبولانس په سر سور څراغ پړقا شروع کړه او د هوایي ډګر پر لورې تاو شو. مور په روغتون کې لاس تر زنې کیناستو....

# انځوریزه برخه





**ځواني له سړي يوسي تور ويښته له سړي يوسي**
**قرار قرار لګيا وي وخت هرڅه له سړي يوسي**

«شاعر»



اوس به وي فاني خو لا فاني به شي
درد که د ژوندون له کـــوره ووتو

رحمت الله «درد»



رحمت الله «درد»

درده! سر مې تېټ کړو په ظاهره، خو
زه له اسمانونو پورته لاړمـــــــــــه




بې ضمیره د آمر په څنگ کې ناست وي
چې ضمیر لـــري هغه کسان په دار وي

رحمت الله «درد»




ملنگ راغلی وي ملنگ لاړې ملنگه یاره
تاپسې هره استانه شوه د زړه رنگه یاره

«احسان الله درمل»



افغان ولسمشر محمد اشرف غني ډاکټر صیب تیتسو ناکامورا ته د افغانستان افتخاري تابیعت ورکړ



حکیم جان «فریادي»

ویر، اوښکې او ویني پرې اثر نه کړي
یا ربه دا څه بې درده ستـــــــي دي



چا درته ویل چې شه ځراغ او پر سر اور بل که
هاغلته چې هر څوک قصیدې وایي د باد کاکا!


«احسان الله درمل»




تا ولې غوښتل چې برباد شوي شي آباد کاکا!؟
څه د نامرادو هیلو ګور ښه یې «مراد کاکا» !

«احسان الله درمل»

CamScanner



زه په روز ګار پسې له کوره دومره لیرې لاړم
لکه بې جالې مرغۍ ژوند مې د کاله بایللی

رحمت الله «درد»




خاوره زر کړې، زر کړې خاورې
وخت څه داسې کیمیا ګر دی

رحمت الله «درد»




رڼاګانې ویشم خلـــقه
ګنې اور مې سر بل دی

رحمت الله «درد»



رغـــــول  د سر په بيه
دلته ژوند په دغه رنګ دی!


«شاعر»

CamScanner



تا موږ ته د خیر د رسولو کفـــــــر کړی و
ته وي د شر ځری ستا په ضد ښه و جهاد کاکا

«احسان الله درمل»



څوک به دې پالي مینه او څوک به دې ګټې وینه؟
مړ شوي خو د ښنګه جوار ګرو په جایـــداد کاکا؟

«احسان الله درمل»



پرېږده چې وژاړي بې صبـره زړه په چغو چغو
وصال ئې غواړي خو د هجر یوه لمحه نه مني

رحمت الله «درد»



څه بې غمه زندګي وه چې ماشوم وم
زما نن له مانه واخله پرون راکـــړه

رحمت الله «درد»



بیګاه د سپین محل په دریڅو کې رڼا نه وه
نرۍ نرۍ ژړا وه او بیا ورو ورو زیاتیدلـــــــه

رحمت الله «درد»



څوک یې چې د درد قبر ته ناسـته یې؟
څوک یې چې ګریان یې څه خو ووایه؟

رحمت الله «درد»



ته وه خټه یې له ګران افغانستان وه

داسې داسې وفادار سړی یې مړ کړ

«شاعر»



درده فرشتې مې ښکلوي سترګې

زه چې د انسان په مرګي ژاړمـــه

رحمت الله «درد»

CamScanner



دا څوک دی چې کټ له دومره ډېرې اوږې راغـلې
دا څوک دی چې هر څوک يې جنازه اخلي او ژاړي

«شاعر»

CamScanner